## د سرو کرښو قوماندان له یادونو څخه!

- لکه سیګرټ اوسئ، څوک مو چې وسوزوي تاسې يې هم باید زړۀ ته رسېدلي وئ.

- لاسونه پر لاسونو، زړۀ پر زړۀ کېږدئ، بیا مو تبه معاینه کړئ.

- ژوند دومره خوږ دی چې، ډېر... !

- مکمل زړۀ په هېڅ انسان کې نهشته؛ نیم نیم یو کېږي.

- د ساز په وخت میَن معلومېږي، هغوی نارې نه وهي بلکې وجود ته نرم، نرم ړچ ورکوي.

- یوازېني تارونه د زړۀ رګونه دي، چې انسان په کې د الکترون غوندې تګ راتګ کولی شي.

- مینه هېڅوک نه شي بندي کولی، څوک روح بندي کولی شي؟

- کوچنیو میَنانو ته د خپلې خولې اوبۀ ورکړئ، لکه د مرغیو مرغزیو ته.

- یو عشقي کتاب، یوه پیاله قهوه، ګنې یوه پیاله تریخ چاې د

تنهایۍ په ملګرتیا کې خوند کړي!

- ❖ موبایلونه مو د یار/ یارې لپاره رڼا او چارجدار ساتئ، هسې نه چې اړیکه مو له قطع کېدو مخکې قطع شي.

- ❖ دا مو تر منځ مینه ډېروي، عاشق او معشوقه د یوې روپۍ خبره هم په غوږ کې سره کوئ.

- ❖ کله چې د انسان خیال ښکلی وي، بیا چې په کاڼو کې هم پروت وي په خپل خیال یې پالنګ کوي.

- ❖ غواړئ له ستورو ډک، وریځ، باراني آسمان او په ځمکه اسمان کې له ... خوند واخلئ؟ مېن شئ ظالمانو!

- ❖ دروازې مه ماتوئ، داسې اوسئ چې دروازې ستاسو له لاس وروړلو وړاندې تاسو ته انتظار کوونکې خلاصه کړي.

- ❖ بایلود دا نهٔ دی چې څوک درنه لاړ شي، بایلود دا دی چې څوک بوتللو ته مجبور کړې، هغوی چې پخپله تللي، یو سمه دیکه هم پسې ورکړئ څو تري تم شي.

- ❖ کتابونه له زده کولو وروستو نورو ته ورزده کړه، په دماغو کې یې خالي مه درسره ساته، ګنې ستا د دماغو او د کتابونو د بکس تر منځ به چندان توپیر نه وي.
- ❖ زړهٔ د پښتیو په پنجره کې بند دی، ګنې باوري یم چې په ډېرو

پسې به په وجودي ښه خپله الوتهٔ.

❖ فرض کړه مړ یې، نو جهنم غواړې؟ نه! نو جګړه بیا اور نهٔ دی؟

❖ څوک مه مجبوره کوئ چې درته ووايي چې په ذره‌بین کې هم نهٔ لیدل کېږې، دا په دې معنا چې ته بېخي کوچنی او عجیب ویروس یې.

❖ که زنده‌ګی مچکې لرلی، تاسو چې هر څهٔ ورسره کول خو ما په مچکو مړه کوله!

❖ هنر دې ته وايي، چې ژوندی تابلو دې په مړهٔ زړهٔ پورې نیولې وي.

❖ هغه درد خامخا خوږ وي چې درکوونکی یې خوږ، خوږ وي.

❖ ناکام مینتوب هم ځان ته څهٔ وايي، والله درد یې خوږ لګي.

❖ که تاسې په رښتیا خپلې معشوقې/ معشوق ته د (زما نړۍ) خطاب کوئ، نو بیا ځانونه مه دروغجن کوئ او مه وایئ چې دوه نړۍوالې جګړې تېرې شوې دي، تر منځ مو خپګانونه حساب کړئ او بیا ووایئ چې دومره/ شمېر نړۍوالې جګړې لا تر اوسه ترسره شوې دي.

❖ نړۍ ګوتې عشقي دي، فوراً مو درته د مینې رګونه ترنګوي.

❖ غواړئ چې پر چا ډېر ګران شئ؟ شاباش ډېر ورته وګورئ.

❖ زنده‌ګي ساکشه نانځکه ده، لږ یې پر غومبرو لاس وهل پکار دي، ډېری وخت پر خپلو برېتونو او زلفو لاس مه وهئ.

❖ تمسخر نو تل هم بد اړخ نه لري، کله چې کومه نجلۍ تا پسې د تمسخر په ادا خولهٔ بوڅوي، خوږ ورلګېدلی یې.

❖ کله چې په لاس، په لاس کې زور درکړي موسکه/ موسک شي سترګې دې فقط یوه ثانیه په چمکي سترګو وګوري، پوه شه چې ستړې مه شې د غبږې رتبې ته کاندیده شوې.

❖ پر شونډو ژبه تېرول نو هر وخت مستي نه منعکسه کوي، هغوی چې درد پټوي د سپېرو شونډو د غوړ ښودلو هڅه په همدې طریقه کوي.

❖ قهوه‌یي قوارې په غوړپولو ارزي.

❖ که زړونه مو وتخنېدل ډاکټر ته مه ترې ځئ، مېَن شئ چې یو څوک یې درته وګروي.

❖ دې ته وځوربږئ چې افغانستان هغه هېواد دی چې مچکې اخیستل په کې عمر کموي.

- ❖ کله چې سرتېرى زنې ته لاس ونيسي، نو قوماندان يې بايد په مرگ محکوم شي.

- ❖ چاى هله خوند کړي چې زړۀ دې يخ وي، گنې گرم او گرم لا گرم.

- ❖ که د شيطان لوچک، ښکلي نه خوښېدى، موږ ته به يې نۀ په گوته کولى او موږ به يې نه پرې ورمارش کولى.

- ❖ ډېرې جگړې په ډېرو مرميو گټل کېږي مگر ډېره مينه په ډېرو مچکو!

- ❖ د چا سر چې په ډېرو ووهل شي نو مالوچ پرې تړل کېږي؛ سرتېري ډېر حقدار دي چې د ليلومې په مالوچي زنگنونو ککرى کېږدي، دوى تر ډېره وخته په ډېرو سرونه وهلي دي.

- ❖ ځان زندى کول چتې خبرې دي، دومره له ژوند سترې دې پر ډېورنډ کرښه گټلو ځانونه مړۀ کړي.

- ❖ ويل يې شپه له جنت راغلې، لاسونه مې وغځول، ما ويل شاباش راوغورځېږه، ويل يې گناه ده، موسک شوم، ما ويل دا گناه بې‌غيرته په جنت کې څۀ کوي؟

- ❖ د ليلا په دنگ قد مه خفه کېږئ او مه هم د لالي په دنگ قد،

هدف ته په رسېدو د پښو ګوتې جېکونه کولئ شئ.

❖ هېټلر ته مې پر دې خبره دماغ ګرنډ/ شارټ دی چې ویلې یې دې ښایسته نجونې ووژنئ، هغوی په خپل ښایست شاعران پیدا کوي او زهٔ عسکرو ته ضرورت لرم، زهٔ وایم دا ښایسته نجونې دې ډېرې شي، دوی په یو شعر ویلو زما د مړو عسکرو مړو جسدونو ته سا ورپوکوي، مات عسکر د دوی له تنکیو شیدوبویه خولو د بریا انرژي څکي.

❖ وششنبړه! لکه باغي آس څو هر نمرود دربانډې سپرلي ونه شي کړی، که څوک سپرلي دربانډې کوي نو هغه به ځوانمرد وي او وي دې.

❖ کله چې وړاندې مارش کوئ نو د بریا لپاره شا ته مارش هم مه هېروئ، د چټکې منډې لپاره باید په شا تګ وکړو.

❖ زهٔ له ماشومتوب هوښیار ؤم، ځکه زهٔ چې ماشوم ؤم د(مشرف) نوم مې سم نهٔ شو اخیستی او(بې‌شرف) به رانه ویل کېدو اوس پوه شوم چې زما ګونګه ژبه په حقه وه.

❖ که نیوټن خدای‌وهلی له ما مخکې دنیا ته نهٔ وای راغلی، ما به د جاذبې قانون په مڼه نه په غومبري کشف کړی و.

❖ دا (تهٔ) سم د کار شی دی، ټولې بې‌معنا جملې معناخېزې کوي.

❖ له عطارد، زهره، مریخ، ځمکې، نیپتون، ورانوس، زحل، مشتري، پلوټو، وروسته ځان د لسمې سیارې کشاف ګڼم، لسمه سیاره (تهٔ) نومېږي.

❖ ژوند هېڅکله هم نهٔ دی بدرنګ، بدرنګو خلکو بدرنګ کړی دی.

❖ شل میلیونه کاله کېږي، چې زهٔ پر دې فکر کوم چې حوا به څومره ښکلې وي؟ تهٔ هم شل میلیونه کاله د ادم پر ښایست وچورلېږه.

❖ هغه کلمه چې زړهٔ تخنوي(مینه) نومېږي او هغه څوک چې زړهٔ ګروي میَن/ میَنه.

❖ پر دې پوه شئ چې زړونه ګټل مهم دي خو دا هم مه هېروئ چې زړونه بایلل هم ترې کم نه دي.

❖ هېنداري ته وګورئ پر ځان لاس راکش کړئ له خپلې قوارې سره مینه کول هم له رب شکریه ادا کول دي.

❖ ساده خبرې لکه د عطرو تشه ښیښه، که تشه هم وي خو بوی خوږ ترې ځي.

❖ که چا درته وویل چې سترګې دې ښکلې دي نو پوه شه چې له تا د دهٔ سترګې ډېرې ښکلې دي.

- کله مو چې زړونه لانده او خېشته کېږي بیا یې په ازاده هوا کې لږ ذره د مازدیگر لمر ته ږدئ.

- ما دا هم وکړل، ښۀ ملگري مې وشمارل او بیا مې د لالي نوم جمع حالت ته واړاوه، لالیان!

- د چمچې لپاره له بوټپالشۍ، په لسگون بوټ پاکي غوره ده.

- لرې! شرم دی چې هر چا ته د جنس له لحاظه سړی ووایو، ځینو ته سړی ویل کفر دی.

- سترړیا په دې وتښتوئ چې ورته ووایئ نۀ یم سترړی!

- د خندا لپاره د خولې ښکلا معیار نۀ دی، بېغاښونو خولۀ لا خوند کا.

- آیینې ته وروگوره، وخانده، ځان پاچا وگڼه، له ځان سره ووایه ښکلی یم، چې ښکلی شې.

- که چا لږ خواږه دروکتل، سترگې د څو شیبو لپاره ښکته کړئ، پرېږدئ چې لږ مو په کتلو خوند واخلي.

- په یوویشتمه پېړۍ کې چې کله څوک له مادیاتو درتېر شو کلک ملگری مو دی.

❖ شیبه کتل مو شپې، شپې ویښ ساتي!

❖ نږۍ، نرۍ لکه د نجلۍ ملا لري، ډېر زورورباندې ظلم دی.

❖ موږ ژوندي، مړو ته ژوندي ګلان مړۀ کوو.

❖ ستونزې یعنې؟ ستونزې یعنې د جعلي ملګرو تور لېست ته د اچولو لار.

❖ د مېَنو خلکو د ذایقې حس په سترګو کې ځای لري.

❖ ډېر خوارِه مې نۀ خوښېږي، ډېر خوارۀ زړونه وهي، د شَکر د ناروغۍ احتمال ډېروي.

❖ سوچ ووهه، مګر سوچ په غریبۍ کې د خانۍ او په خانۍ کې د غریبۍ کوه.

❖ مېَن زړۀ په نورو زړونو کې لکه په مړو سکروټو کې اورپاشه سکروټه ځان ښکاره کوي.

❖ الفاظ چې الوت ولري، کتابونه وزر وهي.

❖ نۀ پیدا کیدونکي ورِمونه د ټولو انسانانو خوښ وي، لکه د خیشتو خاورو ورِم، لکه د لیلا د زلفو ورِم، لکه... .

❖ ډوب سوچ لکه ژور سمندر انسان ننباسي.

- ځینې خپل کارونه مو خپله زنګوي، انسان ټال خپل جوړ کړی او خپله یې زنګوي.

- څوک چې د طلا غرونه لري شتمن به نه وي؟ د طلایي وېښتانو عاشقان شتمن خلک دي.

- هر څۀ پر خپل ځای د ښکلا ننداره وړاندې کوي، نۀ یواځې ښکلي.

- یوازېنې مرغۀ چې د قفس څخه آلوت نه، بلکې د قفس په طرف الوت کوي زړۀ نومېږي.

- که شونډې خوږې او ترخې نۀ وای، د شوق او درد په وخت به مو نه ژوولی.

- دا نو څنګه مینه شوه!؟ چې خاوند په ډوډۍ کې د مېرمنې ویښته ونخوري، نوش جان یې کړئ او ترک زړۀ پرې وګنډئ.

- د لیلا په لاس د ګیلاس په مایعاتو پسې ګیلاس وخورئ.

- نړۍ څلور نه، دوه کونجونه لري، په دې خبره د سترګو مېَن ښۀ پوهېږي.

- له مرګ منکر شه، ژوند وپېژنه ژوند!

- سرتېری هغه نوم دی، چې خپله معشوقه خاوره په الاهو زمزمه ویده کوي خو، خپله د مرمیو په چنګ چونګ زمزمه کې ویښ ویده وي.

- ټول کم پیدا کېدونکي ځیزونه سخت خوند کا، لکه د خاورو عطر، د زلفو وږم، ستا د باډی هوا او دا د (تهٔ) مخاطب.

- راځئ! د یوې ځپېړې په غچ کې دوې مچکې رواج کړو.

- راځئ! دوربین/ لرې لیدونکی د ویشتلو لپاره نه د کتلو لپاره وکاروو او لرې خلک پرې رانږدې کړو.

- پرېږدئ پلمې مه کوئ، که په نره نه شئ ویلی چې راګران/ راګرانه یې نو ورته ووایئ چې چټي پټي راګران/ راګرانه یې.

- عاشقان نوې نوې تجربې کوي، یوه له هغو یې دا هم ده چې دوی د یو چا د زلفو او تنې په وږم پسې هوا ګز کوي.

- دا وکه ها وکه، کوه مه کوه، دا خبرې چټیات دي، ها وکه چې زړهٔ وایي، خو خرهٔ کارونه مه کوه کنه.

- د خوښې کس ته مو ووایئ چې له خندا راته شین/ شنه شه، ډاکټر راته ویلي چې شنه ځایونه دې ذهني فشار له منځه وړي.

- سرتېری؟ سرتېري په اصل کې د دوو مورګانو زوی ته وایي مور او

مور خاوره مساوي کېږي دوه مورګانې.

❖ د مرمیو چنګ چونګ، د سرتېري مستي د ډول ګـړز ګـړوز تـه لا ډېروي، هغوی د (دوه ورځې ژوند دی!) خبره په عملـي ډول تـر څېړنې لاندې نیسي، موږ به ترې زده کړو چې دوه ورځې ژوند او سختۍ یې باید په خوښۍ ونمانځو.

❖ او له ځینو سره تروشه ټنډه هېڅ خوند نه کا، داسې ورسره ښکاري لکه د نجلۍ په لاس کې تومانچه.

❖ د بې ادبه خبرې مخکې د (بې ادبي دې معـاف وي) خبـره خپلـه بې ادبي ده خو مه یې کوه چې خبره بې ادبه وي.

❖ ښځې دې سړیو تـه برېـت وروپېـچـي، سـړي دې ښـځو تـه زلفـې ورومړي، که برېت نه وو یا زلفې نهٔ وې، مخونه بیا هېڅا هم نه دي درنه وړي، سره ویې روئ، پېر وروښیئ/ سره تاو راتاو یې کړئ.

❖ د سپین رنګو او تور رنګو ګډون داسې خوند کا، بـس دغسـې یـې وښیه لکه په تور چای کې بوره.

❖ او مێن ولې سور رنګ د مینې سمبول ګرځولی؟ ځکه چې مینه او وینه هم‌قافیه او بله دا چې لالی/ لالۍ د وینـې غونـډې پـه رګونـو کې منډه وهي، د وینې رنګ؟ تک سور!

❖ له مرچکیو خبرو، بابولالې هم ښې دي لږې خو تروشې لګي.

❖ پر دې ځان پوه کړئ چې تر ټولو ډېروزنه اوبهٔ اوښکې او تر ټولو تاواني یې تلونکی دی.

❖ ژوند یو تصویر نه دی بلکې تصویران دي، بېخي ډېر، بېخي بدل بدل خو ټول باید خوښ کړو.

❖ تر ټولو غوره سپاهي هغه دی چې د ځمکو د فتحې تر څنګ د ځمکوالو/ په ځمکه کې د اوسیدونکو خلکو زړونه هم فتح کړي.

❖ فکر وکړئ که زړونه مو د مینې په نازک تار سره تړل شوي وي، نو د محکم کولو لپاره پنجې اچول په کار دي.

❖ دا مېَن ډېر ښهٔ وایي چې وایي زړهٔ مې پرې ګرم دی / ورمېَن شوی یم، مینه رښتیا تاوي او تاوجنه ده، د مېَن په نهشتون زړهٔ خوَلې کېږي، خوَلې یې ګیلې دي، که پاتې شي زړهٔ زنګ وهي، زنګ وهلي څیزونه چوي، د خوَلې د لرې کولو لپاره غړېدل په کار دي، ګنې لوی لوی الوېښي وباسئ.

❖ دومره عجیب انسانان شئ چې دا انسانان ووایي چې دوی له بلې سیارې راغلي دي، پرېږدئ که ټوکې درپورې کوي؛ لږ خو به د خندا لامل ګرځېدلي یئ.

❖ رښتینی قوماندان کله چې د نظام مخکې تیار عسکرو ته ودرېږي، دهٔ ته باید د خپلو عسکرو شمېر معلوم وي، باید عسکر حیران

کړي، دی چې غړېږي د عسکرو د شمېر یادونه دې وکړي چې زما دومره شمېر زامنو!

❖ گونځ/ تروش تندی مه نیسئ، د شاعرانو کاروبار مه خرابوئ، دوی عاجزانو مخونه له سپوږمۍ او لمر سره ورته کړي دي، د سپوږمۍ او لمر تندر نېول خلک وېروي.

❖ که چا درته وویل چې نصیحت راته وکړه، لنډ ورته ووایه چې میَن شه، تر ټولو ښه نصیحت به تا ورته کړی وي.

❖ او دا هم واورئ مور هېڅوک نۀ خرڅوي، خو مور خرڅه کړه وطن مه خرڅوه، مور مو تر مرگه په غېږ کې نیسي مگر وطن مو تر قیامته!

❖ او عشقیان ټول سرۀ رنگونه خوښوي، پرته له وینې!

❖ دا یوه مهرباني باید د ماشومتوب له وخته تر مرگه پورې له ځان سره د سینې په صندوقچه کې وساتو چې کله په ماشومتوب کې د شپې لخوا وېدۀ کېدو نو، رایاد به شول هغه څۀ چې د ورځې په جریان کې به له مورِ سره وو، آن بې روحه د لوبو شیان به که هم وو خو چې د شپې له خوا به رانه چرته بهر پاتې شول، نو له ځان سره به مو وویل ووووووخی د هغې څېز به یخ/ گرمي کېږي، وېرېږي به او... .

❖ که چا درته وویل چې ستړی مه شې نو په ځواب کې ورته ووایه

چې جنتي شې، که څوک سترې مه شې درنکړي نو کیسه کې یې مه کېږه ځکه تا به جنت نه وي ورکړی.

- تسلیمېدل هم بریا ده، کله چې خطا وتۍ نو مخاطب ته لاسونه جګ کړئ، ورته ووایۍ زۀ تسلیم یم را، غېږه را.

- ژوند که لنډ دی خو وي دې، دا تنګ کوئ یې مه.

- لالی/ لالې دې د زړۀ رابطه په ګوتو کلکه کړي، سره ودې یې پېچي نو!

- خولې مه ګنجوئ/ کږوئ، ګنجې خولې زړونه ګنجوي.

- د میَنو غریبانو لاسنیوی په پیسو نه، په لاسونو کېږي!

- له ابکسري پرته زړونه لیدل غواړئ؟ بیا داسې وکړئ چې سترګو ته یې سم ژور ګورئ له خیره به یې زړۀ ورته لیدلی شئ.

- ان په ګېم کې هم د خپل عسکر په مرګ او ژوبله دردېږم!

- کومې لحظې مو چې خوږې تېرې شي، هم هغه لحظې مو ذهن ته کاپي کړئ او د بیا بیا تکرار هڅه یې وکړئ.

- ناز او کبر توپیر لري، پرېمانه ناز مو میَن پرېمانوي، کوئ یې.

- فرض کړه الوتلی شې، چېرته ځې؟ چې چېرته ځې په پښو هم

هماغه ځای ته حرکت وکړه دا مهمه نه ده چې وزر نلرې.

❖ کش چې په موټر کې نهٔ وي او کش چې په ژوند کې نه وي نو بیا نه موټر موټر شو او نهٔ ژوند، ژوند شو.

❖ او یو دانه خندا، لکه د سپرې یو پششش، د بدې خبرې بد بویي له منځه تښتولی شي.

❖ له هر چا سره وخانده، ورسره خوږ/ خوږه شه، مگر دا له یاده مه باسه چې عشق له موره یو دی او له (یو) چا سره یې کوه.

❖ دماغ میماغ په مینه کې نه چلېږي، زړهٔ چې په چا ورغی نو ورغی.

❖ دومره له څلورپښی سپي مه وېرېږئ لکه له دوه پښي سپي!

❖ د خبرو کول گران کار نه دی، پر خبره پوهول گران کار دی، سپي ته چې گوتړک ووهي سمدستي درته رانېژدې کېږي، لکی خوځوي او درک کوي چې څښتن بلنه راکړې، مگر انسان ته چې گوتړک ووهي نو پاڅېږي او حرکت درنه کوي او انگیري چې راته وایي چې درځه، مقصد دا چې مخاطب گوره بیا یې له سویې سره مناسبه غږېدا کوه.

❖ بېخي بده ده چې د چا له تورو سترگو رانجهٔ توی کړئ، خاصکر له نجونو خو کفر دی!

- ❖ د جدایۍ مرض وهلو مینو وجودونه د څېړنو لپاره غوره ژوندي اسکلېټونه دي.
- ❖ کاڼي ډېر پاسته ماسته دي، ګنې له سرتېري وپوښتئ دوی یې بالښتونه ګڼي.
- ❖ دومره لرې له چا مه ځئ چې په نېژدې کې هم د سترګو پر سر لاسونه چتر کړي او په بې‌باورۍ او حیرانۍ دروګوري او وایي وی، دا ته یې؟
- ❖ وعدې مه لټریزې کوئ، ګنې ډک له کمال به هم د تش شک درباندې کېږي.
- ❖ غېږه اخیستل مو درد کموي، که څوک مو د غېږې بدلېدو نه وو له بالښت یې واخلئ.
- ❖ د ملګري/ ملګرې په لېدو پسې مخ نه ګرځول کېږي، مستقیما یې پر اوږو لاس اېښودل واجب دي.
- ❖ ژوند لکه دېوال له خښتو ساز شوی دی نو که یوه ذره اشتباه دې په کې وکړه رالاندې کوې دي.
- ❖ انسانان ټول خوارۀ دي که مو په کورنۍ کې هلک وزېږېد کېک وویشئ او که نجلۍ وزېږېده ګلاب‌جامن خیرات کړئ.
- ❖ تشریفاتي کارونه مې بد لګي، که ولسمشر شم د تشریفاتو ټیم

ختمؤم او د دې پر ځای چې یو شخص ته هرکلی ووایـي د ډېـرو خلکو خدمت پرې کوم.

❖ دا خبره چې مصروف یم خپله بهانه ده او په یـارۍ کـې بهـانې نـه چلېږي.

❖ د ژاولې ژوول ښه وي خو په خبرو کې ژاولې ژوول ذره هم خوند نه کا.

❖ موږ ته غریبي تل پېغورونه راکوي، راځه کله کله موږ هم پېغور پـه ساتېرۍ ورکړو او ووایو: پرېږدئ کور کې دې گرد اوړۀ نه وي خو چې خالي سات تېر وي.

❖ ټولې خبرې مبرې وگټه او له هر چا یې وگټه خو، پر هغـه چـا یـې بایللې کا چې د گټلو چل یې درښوولی دی.

❖ چې هره بې‌جرأتي کوئ ویـې کـوئ خـو د مینـې تـر ځنـگ بـې جرأتي مه کوئ، ځکه دا بې جرأتي لـه ځانـه سـره مـرگ او ژوبلـه دواړه لري.

❖ پر هر چا گرانوالی دې بوتل‌شاه تـه ورتـه کـوي بایـد د ځینـو بـد ایسېږې.

❖ آن ځان په خپله وتخنوئ خو وخاندئ.

❖ کله چې څوک در گرمېږي/ مېَنېږي نو مه ځـان مـړ پـرې حسـاب

کوه او مه دی مړ کوه یعنې مینه مه ترې تښتوه که ترې ودې تښتوله نو دا مینه په مړي کې د مړي گرځول شول.

❖ د بایللې مینې، د مین زړهٔ لکه د گونځ کاټن گونځې هومره جذابې او چسکې وي.

❖ یو کسیز قهوه‌تونونه او جوشتونونه دې پر لوحو غټ ولیکي چې دلته یوازې راتلل منع دي څو چې نجونې او هلکان غبرگ چکر ته مجبور شي.

❖ که ملگري/ ملگرې مو نیمې زنې ته لاس نېولی وي ورنېږدې شئ خپل یو لاس یې بلې زنې ته ورلاندې کړئ په بټه گوته یې اوېزانه زنه پاس راجگه کړئ سترگو کې سترگې ورښخې کړئ او غلي ورته ووایئ آجار/ څاار رنځ دې راشه!

❖ عاشقانو په یاد ولرئ لالی/ لالۍ که درجن، درجن خویندې او وروڼه هم ولري تاسو باید داسې فرض کړئ چې له موره یو/ یوه ده.

❖ د ډېرو عاشقانو رمنځ بدي شي، دوي غواړي چې د مین وېښتان په خپلو گوتو شانه وانه کا.

❖ پلاستیک هغه توکی دی چې په هرڅهٔ کې کارول کېږي مثلاً پلاستیکي ملگري، پلاستیکي مینه، پلاستیکي فلانی، پلاستیکي ډینگی.

❖ ځینې خلک له لرې سخت ښکلي او ځلېدونکې ښکاري داسې لکه سپوږمۍ، لکه نوردار ستوري خو کله چې ورنېږدې شې نو لکه سپوږمۍ، بې ژونده سیاره او ستوري همدقسې.

❖ د خوشـخنداني کـورنۍ یـوازېنی راز د کـورنۍ د غـړو تـر مـنځ د غوسې په وخت یوه دقیقه چوپتیا ده.

❖ څۀ به یې سره چېړو لنډه دا چې نجلـۍ څـانګې او هلکـان ګـلان دي.

❖ ملګرتیا یعنې څۀ؟ نیمایي تنه/ وجود... .

❖ زۀ د ځان وژنې خبره بلکل ردوم هېڅکله هم ځان وژنه نـه کېـږي دا چې تاسو ځان وژونکی چا ته وایئ پلټنه پسې وکړئ هغه به هرو مرو کوم کس وژلی وي.
او ځانګړي کس ته چې درنه تللی دی او درته راغلـی دی ووایـئ چې هېڅوک له خفګان او خوښۍ نۀ مري.

❖ کله چې کوم کار کوئ او کوم کس درتـه ووایـي چـې کـه دا کـار داسې شي نو ښۀ به شي، پر دې خبره یې سوچ وکړه خو که درتـه ووایي چې له دې کار ښخي تېر شه نو پوه شه چې نیت‌کمي کا.

❖ بریالی کس لکـه لـوکس مـوټر، کـورنۍ یـې لکـه څلـور ټایرونـه او ملګري یې لکه سټپني.

- د ماشومتوب پړاو خدای زیات کړی دی ، ټایر چلول په کې داسې خوند کا لکه د مرسېډېز ډرایوري.

- ځینې ملګري لکه اصلي پیسې په هر ځای کې د چلښت وړ وي خو ځینې ملګري لکه جعلي نوټونه، سړی په جیب کې هم ترې ډارېږي.

- که ملایکه لیدل مو ارمان وي په مور کې غبرګې سترګې ښخې کړئ که حورې لیدل مو ارمان وي نو نجونې هم ځمکنۍ حورې دي.

- معشوقه ګله ده، ګله خاورو ته اړمنه وي معشوق یې باید په خاورې وجود کې راونغاړي.

- کوچني مېَنان په ماښام کې د لیلا د کور د دروازې مخه نیسې، د ماښام مړی/ډوډۍ د لیلا په شوق کې ترې خوري.

- ټکنالوجۍ ډېر کارونه ممکنه کړل یو د نغدې غېږې اپشن په کې نه‌شته.

- سپاهۍ له سپه سالار د تورې د ځلا شوق نه لري، د سترګو او د خبرو د ځلا شوقي یې وي.

- که غمګین یاست ډاکټر ته مه ځئ، جار مېَن ته ورشئ د هغهٔ د سترګو باڼه به مو غم داسې وتښتوي لکه د پېچکارۍ په لیدو چې

رګونه وتښتي.

- که څوک دې درد ته واه واه کوي نو کوي دې يې ياره، تـر ټولـو ښکلی شعر درد دی.

- سـپاهي مـې پـر دې خوښـېږي چـې د ظلـم خـلاف غـږ نـه، ګـام اوچتوي.

- هغه ملګري چې درته ووايي راځه څو يادګاري عکسونه شرک وهو، مقصد دا چې د پرېښودو اراده دې لري يا د تل لپاره يا د لږ وخت لپاره.

- ځينې خلک واړه نهٔ وي خو په اړه دې يې له وړو خولو اوريـدلي وي، بعضـې خلـک لـوی نـه وي خـو پـه اړه دې يـې غږېـدل لـه سترخوليو اوريدلي وي.

- د ليکنښو نوم به مو ډېر اوريدلی وي، مګر سترګـنښـې هـم شـته او بايد چې زده شي.

- نجونې لکه سپينې واورې، هومره نازکې دي، سړي لکه غرونه مګر توپير کا. ګرم غرونه واورې نه لري او که پرې وشي هم ويلې کوي يې، په يخ غرونو واورې ووري او ويلې کـوي يـې هـم نـه، غوسـه ګرمي ده او نرمـي يختـوب، يـخ اوسـئ څـو نـازکې واورې ويلـې نهٔشي.

❖ د وطن په خاورو ککړ عسکر د مرګ په وخت ځکه مه لمبوئ چې دوی تیمم وهلی دی.

❖ کله چې دوه روحونه په یو وجود کې شي، بیا یې عادتونه همنوعه وي.

❖ هغه مصرف چې پر نمک‌حرامي کس یې کوئ که چرته پر یو کوځه‌ډبي سپي یې وکړئ ګټه به یې ډېره وي.

❖ که ځینې درته ووايي چې څۀ خدمت؟ ورته ووایئ چې هېڅ هم نه‌شته، خالي ته مه ځه او کېنه.

❖ کله مو چې په مینه کې خنډ او مخالف نفر پیدا شي نو بوکسري ورزش پیل کړئ او د مخالف نفر په شوق کې زمزک/ د بوکس لپاره راځوړنده بوجۍ سمه وغربوئ او زړۀ پرې یخ کړئ.

❖ له سپاهي به سا پورته کړې خو له مورچل یې نه شې پورته کولی.

❖ هغه جنس چې څوک خپله ضرورت ورته لري نه خرڅوي نو وطن مه خرڅوئ تاسو خپله ضرورت ورته لرئ.

❖ په ترخه قهوه پسې خواږۀ یادونه ونیسئ، ایله بېله به مو طبیعت ټیک ټاک کړي.

❖ د نړۍ ټول مېَن د یو هېواد مېَنستان اوسیدونکي دي.

❖ له شاعرانو سره سیاست داسې لیدی شي لکه له ډاکټر سره سېګرټ.

❖ بل څوک شوي او بل څوک هسې هم بل څوک شوي او بل څوک وي، سم معناخېز تخلصونو رډئ د هېواد نوم مه تخلص کوئ لکه(افغان) تهٔ وا موږ پنجابیان یو؟

❖ مهمه نه ده چې یواځې په ولنټاین/ د مینو په ورځ مینه وکړو مهمه دا ده چې هر وخت مېن، مېن پاتې شو.

❖ خپلواکي په هر څهٔ کې خوند کا، د بل له دوو مېنټو راکړي موټر مو خپله لاسي ګاډی ډېره ښه ده.

❖ هر فلم کتونکی په فلم کې ځان له مرکزي لوبغاړي سره تړي، په مېلیونونه انسان دا کار کا، مګر د پست او بې‌غیرته اکټ/ رول هېڅ فلم کتونکی له ځان سره نه تړي، سره له دې چې پست او بې‌غیرته به هم وي، چې دا خپله د بې‌غیرتانو یوه بله بې‌غیرتي ده، ځانونه دې اصلاح او اتلان کړي.

❖ په شړک باران کې مینه‌ناک او بې‌مینې مخلوق ښه پېژندل کېږي، هغوی چې مېن نه وي له باران منډې وهي او نه غواړي لانده خیشته شي خو هغوی چې مېن دي له باران منډې نه بلکې په باران کې ارام قدم وهي.

❖ هیرېدل ښځي شته نه، نهٔ د کوم څهٔ، نهٔ د کوم چا یوازې یې په

**یاد کې کمښت راځي.**

❖ **چاپلوسي انسان څپلۍ کوي او څپلۍ تل تر پښو لاندې وي.**

❖ **د څو کسانو خیرن مخونه سخت کاکوي خوند لري، د ماشومانو، لېونیانو او کارګرانو.**

❖ **که چا وویل چې ښکلي مې نۀ خوښېږي مطلق دروغجن دی.**

❖ **ځینې ملګري سېګرټ‌دوله وي، د فشار او ستونزو په وخت کې درسره هم وي او تاوان هم درکوي.**

❖ **هر څوک چا له وچ په ناحقه خواړه پاړه نه ګوري، څوک چې په دا دومره خلکو کې درګوري نو حتمن یې خوښ شوي یاست.**

❖ **ځان ستړی کړئ، جامې خیرنې کړئ خو ټنډې ګرولو ته ځان مه سموئ.**

❖ **د مینې له وړاندیز د شبکو لنډمهالي وړاندیزونه مه جوړوئ، مینه اوږدمهالی وړاندېز دی د اوږد مهال لپاره فعالېږي.**

❖ **که انسانان د غوسه کېدو غونډې مېَندو ته هم پلمې وګوري د نړۍ نوم به مېَنستان شي.**

❖ **آن پهلوان هم ټول زور بایلي، کله چې د خوښې نجلۍ پرې په**

مينه لاس کش کړ.

❖ په هر ځۀ کې يو ځۀ پاچاهي کوي مثلاً په مخ کې غومبري، په زړۀ کې مينه او داسې نور... .

❖ د هر چا په لمس مو وجود نه مېږي کېږي، د چا په تېچ کېدو مو چې وجود مېږي کېږي ښۀ پاخه پرې مېَن ياست.

❖ د ملګرو د بنډار لپاره ښۀ خواړه شرط نه دی، بلکې په يو تريخ چای هم راټولېږي، هغوی چې يوازې د ښو خوړو په ورځ ستاسو بنډار ته راځي خېټور دي، نه ملګري.

❖ مينه د وادۀ لپاره پيل کېږي او د خواږه ژوند د غځېدو لپاره دوام پيدا کوي.

❖ ګوتمۍ لاسونه ښکلي کوي او نجلۍ هلکان ښکلي کوي.

❖ کاريګر ډېر نران خلک دي، دوی په خپله ستړيا ټوله کورنۍ اراموي.

❖ کـه چـا پرېښودئ نو تاسو ګټونکي کېږئ او دوی بايلونکي حسابېږي.

❖ سرتېرې جوړېدل يوازې د برګې درېشۍ اغوستل نه دي، له سر ډېره جوړول او بيا د وطن د ساتنې په دېوال کې کېښودل دي.

- چوپتیا تل هم گټوره نه وي، ډېره چوپتیا مو پر بې‌زړه‌توب دلالت کوي، سم چې څومره ډېر غرېدلی شئ، غرېږئ خو که سم نه شئ غرېدلی نو بې‌زړه هم ښه یئ.

- سره له دې چې تاسو مینه لرئ خو که کوم بل څوک هم د مینې وړاندېز درته وکړي په وچو او کلکو الفاظو یې مه وررډوئ، د مینې له درلودو یې خبر کړئ او بیا یې له تاسې سره لرونکې مینې ته درناوی وکړئ.

- درک کول دې ته نه وایي چې په لاسونو یو څوک ونیسه او بس، درک کول دې ته وایي چې دننه له پټ درد یې خبر شې او په اړه یې ښه کېدونکي اقدامات وکړې، مثلا غېږ کې نیول او د زړه درسره یم ویل.

- څوک مو چې په سترې مشي کې لاس درټینګوي، د مینې ټینګ پیغام درسوي.

- کله کله باید د بل چا لپاره ژوند وکړو نه د ځان لپاره، کله مو چې له ژوند زړه توربږي مور، خور، ورو دریادوه او له ځان څخه دا سوال کوه، دوی به له ما وروسته څنګه وي؟

- نشه خرڅه غواړي، مېَن کېدل یعنې مفت نشه کېدل.

- له چا مه ځئ، که ځئ نو دا مه وایئ چې بیا راځم که بیا راځئ نو نېټه ورته وټاکئ او ورته ووایئ چې که په دا نېټه رانه‌غلم نو بیا نه

راځم هسې په راځم، راځم ویلو د چا تورې څنې مه سپینوئ.

❖ خیرنې شیشې، په سوډا وینځلو پاکېږي او خیرن زړونه په مینه.

❖ څومره چې د موټر وینځلو کاروبار ډېرېږي دومره ملګرتیا خیرنېږي.

❖ ځینو بې وجدانو ته وطن هم مېوه ښکاري، خرڅوي یې بې‌غیرتان!

❖ د ملګرتیا له اړیکو د شبکو اړیکې مه جوړوئ چې بهانه وکوئ چې والله شبکو کار نه کاوۀ.

❖ په ځینو ځایونو کې احترامات نه چلېږي مثلاً له یو اوږده ځنډ وروسته د مېنانو په یوځای کېدو کې.

❖ امر څوک ښه نه ګڼي، مګر امر وکړئ په خلکو، د عشق په طرف د وړاندې مارش.

❖ هیله مندي د ژوند کولو لپاره د طاقت ګولۍ دي.

❖ مېنان یو بل ته دومره په عجیب انداز ګوري تۀ وا چې د مرګ زیرې پرې شوی او وروستی دیدن یې دی خو هرځل همداسې تکرارېږي او دا ډېر ښۀ عادت دی.

❖ هغوی چې تاسو یې خوښېږئ قدر یې وکړئ، مینه ورکړئ او پر خپل انتخاب یې مه پښېمانه کوئ.

❖ ځينې خلک په ځينو موضوګانو کې خالي ګوتې وهي خو ځينې بيا په کې لغتې وهي.

❖ هېڅ خوند نه کوي چې نجلۍ څوک په توپنچه تسليم کړي، دوی که خدای ورکړی د ښايست زور وکاروي، لاسونه به مو په هوا کې خوشي کړي وي.

❖ له ژوند خوند اخيستل چل غواړي چل يې دا دی چې خوښۍ ته بهانې وګورې.

❖ جار مېَن ته چې ووايئ دومره مينه درسره لرم لکه دنيا، نه دنيا کوچنۍ ده، له هغې دا ښه ده چې ورته ووايې چې دومره مينه درسره لرم لکه تهٔ!

❖ د عشق پوهانو له نظره د سترګو جنګ له اټومي جګړو څخه ګڼل کېږي، دوی ځکه دا وايي چې تاثير يې تر ډېره پاتې کېږي.

❖ نورو پسې خفګان مو پر دې ارزي چې تاسو ښهٔ انسانان وګڼل شئ.

❖ تل باور کوه، پرېږده که خپل باور تاوان هم درورسوي ګټه به دې کړې وي، همدې باور به يار او مار درمعلوم کړی وي.

❖ مينه کوم قرارداد نه دی چې تصميم به ورته نيسې او سوچ به پې وهې چې ودرېږه د څومره وخت لپاره او څنګه ګټه به وکړي که نه چې امضاء يې کړم؟ بلکې مينه هغه تړون دی چې تصميم نيولو

ته وخت نه درکوي او د تاوان او ګټې موضوع درته په کې چندان نه ښکاري بس امضاء کوې به يې نو.

❖ زيات جايداد خوښي نه شي راوړلی، جديد ذهن مو خوښ ساتلی شي.

❖ تاسو مينه کوئ په خلکو پسې مه ګرځئ، د خلکو نو په څۀ کې کار نه وي هن؟

❖ صحيح ده وفاداري له سپي زده کول په کار دي خو لم وهل يې په غلطۍ کې هم درنه زده نه شي.

❖ له چا سره مو چې خبرې کول زړۀ غواړئ، ښۀ پرېمانه ورسره وغږېږئ، د وخت ارزښت کوم بل څۀ نۀ دی، همدا ستا د خوښې خلک د وخت ارزښت دی.

❖ يوازېني ښکلي او قوي موټر چې د چارواکو زامن يې چلول نه خوښوي د عسکرو رېنجر او موټرې دي.

❖ هغوی چې خوښېږي مو چې هر څنګه وي درنېژدې يې کړئ آن مور او پلار يې تر زنې ونيسئ خو بايلئ يې مه!

❖ په ليونيانو کې روغ عقل نه‌شته او په روغو کې روغ انسانيت نه‌شته مساوي راته ښکاري.

❖ کتاب هغه ښيه چې تۀ يې نه لولې خو په زور ځان دربانديې

ولولي، شعر هغه ښیه چې ته یې نه لیکې خو درنه ولیکل شي، ښایست هغه ښیه چې ته یې نه خوښوې خو درنه خوښ کړی شي.

- هر چا ته ځان مه کوچنی کوه خو مور مو له یاده په کې ونه وځي، په یو مېتر رېږه کې هم مور ته کوچنی کېږه.
- په هدېره کې پرې خاوره اړوه خو له زړه یې هدېره مه جوړوه.
- ځینې په جامو کې هم بې جامو وي چې دا د افسوس ځای دی.
- که له اوسپنې هم جامې وکړې لغړ ذهن به دې بیا هم لوڅ وبولي.
- پنځګوني حسونه د نورو شیانو لپاره کارول کېږي، مینه د شپږم حس کار دی.
- دا خاورینه دنیا د مېن د اوسېدو ځای نه دی، مېن د غوښې په یو بوټي کې اوسېږي او اوسېدل غواړي چې د سینې په ګڅ لورې کې ده.
- ګېډۍ زلفې، ګېډۍ ګلان د چا چې خوښېږي د وجودونو ګډېدل یې هم خوښېږي .
- ملګري هم لکه د فېسبوک ستېکر توپیر کوي، ځینې د خندا والا، ځینې د ژړا والا، ځینې تروش تنډي او ځینې د زړه والا وي چې ټول پر خپل، خپل ځای ښه هم وي خو، د زړه والا به مني.

❖ لومړۍ د ژړا او خندا په معنا ځان وپوهوه ، بیا هر نن لـه ځانـه دا پوښته ځومره مې وخنـدول او ځـومره مـې وژړول؟ دا دوه دانـې ډېرې ښې پوښتنې دي.

❖ مینه لکه مستې، ګټل یې لکـه پـرې لـه پاسـه غـوړي او بایلـل یـې یوازې ورته کتل او نه خوړول دي.

❖ ژوند دی هر څهٔ ته وخت ورکول په کار دي، مینې ته، خبـرو تـه، ملګري/ ملګرې ته، که ټول وخت عبادت ته ورکړئ نـو دا پـه دې معنا چې تاسو له جنت هاخوا اوښتل غواړئ.

❖ مینه کول ښېله موضوع ده او ګټل بایلل یې ښېله موضـوع ده، خـو تر ټوله مهمه یې کول دي، مینـه وکـړئ همـدا زهٔ چـې د مینـې د کولو ټېنګار درته کوم یو تن د مینې بایلونکی یم.

❖ سیګرټ څکل ښهٔ نه دي، خو یو چا ته غم ورکـول هـم ولاکـه ښـه وي، غم مه ورکوئ سېګرټ به نه څکي.

❖ عشق موسم نه پېژني، که ژمی و ګرمـوي او خـولې کـوي دې، کـه اوړی و یخوي او لړزوي دې.

❖ څوک چې په کوم فېشن کې وي حتمـي ده چـې هـم هغـه یـې خوښ دی، که تایید یې نه ورسره کوئ، نو څـهٔ حاجـت چـې پـه شوق او ذوق کې یې ګوتې ورووهئ، داسې مه کوئ نو.

❖ نزاکت سخت خوند کا، کله چې یو چا ته په نوم یا تخلص اخیستو غږ کوئ نو که صاحب ورسره اضافه کړئ خولې به مو ماتې شي؟ نه! نو صاحب ورسره زیاتوئ کنه.

❖ ټول خلک ګټې خوښوي خو تر ټولو ناوړه ګټه خوښونکي هغه دي چې تهٔ قصدا ګټه ورولوروې او دوی دې پاګل هم پسې وبولي او پسې لاړ هم شي.

❖ بهترین چاکلېټ خواږه یادونه دي، ګنې له شین چای وپوښتئ ځینې کسان پر دې ارزي چې په زړهٔ پسې یې ویلډینګ کړو.

❖ په ملګرو کې ځینې ملګري چې هېڅ په درد نه خوري لکه د پرو په بنډل کې پیریان، باید ایسته وغورځول شي.

❖ نازکې څپېړې، په مینه د غوړونو تاوول او له ژبې سره د شونډو ژوول، د عاشقانو له شکنجو څخه دي.

❖ هغه دردونه چې ژبه یې له بیان وېرېږي او څوک نه شي کولی چې بیان یې کړي نو سترګې یې پرته له دې چې د بیان لپاره له تا اجازه وغواړي بیانوي یې.

❖ فاصلې او واټن کولی شي چې وجودونه بېل کړي خو روحونه نه شي بېلولی، روحونه مو چې یو کړي وي بیا له فاصلې مه وېرېږئ.
❖ لکه بدرنګ عکس چې د ښکلا لپاره د اېډېټ په پروګرام ښکلی کولی شو داسې بدرنګ ژوند هم د مینې په پروګرام چسکی/

ښکلی کولی شو.

- ❖ له ځینو بریاوو ماته ښهٔ ده، هغه بریا مو چې د خلکو په زیان تمامېږي ترې تېر شئ.

- ❖ روح، او رنګ بېلې موضوعګانې دي، رنګ دې که ډېر صاف هم وي خو چې روح دې خوږ او صاف نهٔ وي بېمالګې او بېخونده يې!

- ❖ زړهٔ دومره زغم لري لکه یوه لویه لاره، پرې ځه او راځه، خو زیات بار بیا لارې هم ترکوي دا خو زړهٔ دی!

- ❖ اوښکې د سترګو عطر دي کله کله يې وهل ښه وي.

- ❖ یوازې ښځې کولی شي چې ترخهٔ سړي پر خوږو سړو بدل کړي، خو ترخې ښځې خوږې کیسې خوږې کولی شي.

- ❖ وروڼه باید د ملګرو غوندې ګپ شپ سره ولري، نو دې وروری ته څهٔ حاجت چې تروشه ټنډه يې درنیولې وي؟

- ❖ د نرینه خلکو دا عجیب عادت دی؛ دوی له بلې نجلۍ سره مینه کوي خو که څوک د دهٔ له خور یا د کورنۍ له بلې نجلۍ سره مینه کوي بده يې ګڼي، آن ځان په حقه او هغه ناحقه ګڼي، سره له دې چې دواړه یو کار کوي.

- ❖ قطعهبازي/ پرې کول مې پر دې خوښېږي چې بریا او ماتې دواړه

يې د يو هدف لپاره وي، يعنې ساعت‌تېرى وي، خو ضدبازي يې پر غم هم بدلولی شي، نو ضدبازي مو خوشالي له منځه وړي، مه يې کوئ.

❖ گوښه‌گير / تنهايي خوښوونکي پخوا مستان وو، دا چې اوس مستان نۀ دي چا يې خبرو ته غوږ نه دی نيولی.

❖ په عشق کې د ولسمشرۍ نظام نه چلېږي چې بس هر څوک په تاسو کې واک ولري، په عشق کې شاهي نظام چلېږي يوازې پاچا او شهۍ يې بايد وچلوي.

❖ انسان‌پرستان هېوادونه نه بلکې يوازې نړۍ پېژني.

❖ ناچ کړل، خندېدل او غم ته د تښته ويل، هغه شيطان ته، چې تا ته وايي ژوند نه‌شته په خوله د بوکس ورعطا کول دي.

❖ هوا چې کله عطر وهي بيا نو د نجليو د زلفو په لښتو ځان وهي.

❖ مينه ځکه د روحونو پيوستون دی چې خفه به هغه وي خو زړۀ او دماغ به ستا خوږېږي.

❖ په چا پسې له مسخرې مخکې دې خپلې قوارې ته ايښه ونيسه کيدای شي په ايښه کې پر ليدونکې څهرې وژاړې.

❖ قوي اوسئ، ژوند لکه د فوټبال لوبه، کمزوري خلک په کې چندان نه شي لوبېدی.

❖ که د ځان د تکمیل حریص یاست، هېڅوک کم مه گڼئ.

❖ ځینې ملگري مو پر اوږو لاس دراچوي، خو هدف یې لـه تـا سـره مینه نه، بلکې ستا پر اوږو د خپل ځان د وړلو هڅه وي.

❖ هغه سندرې چې چک درلگوي، په هغو کې ستاسو هغه کیسې وي چې تاسو یې کول غوښتل خو کولی مو نه شوې، ځکه خو سـرونه ورته زنگوئ.

❖ په ملکي ژوند کې ځینې پوځي کانې مو ژوند جوړوي، معشوق او معشوقه یو بل ته سم عسکري سلوټ کوئ.

❖ د میَنو خلکو ژباړه داسې کېږي(جسماً دلته روحاً هلته)

❖ تریخ بېلتون تریخ چای دی، پسته غېږه لکه پېسته ورپسـې خونـد کړي.

❖ یارانه لکه ربړ ډېره کش/ غځول کېږي خو که له غځېـدلو وروسـته یو ناڅاپه خوشې شي نو دواړه لوري خوږوي.

❖ د مینې د اندازه کولو واحد مو خپل لاسونه دي، هغوی چې تاسو پرې میَن یاست، مخاطـب کـړئ چـې اې! بیـا مـو لاسـونه دومـره وغځوئ چې ځـومره غځـول کېـږي، بیـا دومـره ډېـر دومـرررره ووایئ چې څومره مو وس وي، بیا ووایئ مینه درسره لرم ایلـه بـه

مو زړهٔ سپک شي.

- ❖ ژر میَنېدل سخته ښهٔ لوفري ده، دردېدل ښهٔ په کې پرېمان دي، ان بریالیتوب هم په کې په نشت حساب دی، خو که پر همدا تاسو باندې څوک ژر میَنېدل احساساتو ته یې قدر ولرئ، مینه ورسره وکړئ او مینه یې بریالیتوب ته ورسوئ، او زما پاسنۍ خبرې غلطې ثابتې کړئ.

- ❖ د زړهٔ خبرې کول غواړي، گنې زړونه به دروپړسوي.

- ❖ مودې نه دي مهمې، د مودو مزې مهمې دي، یو شیبه په خوښۍ له چا سره پاتې کېدل تر یو کال دردي پاتې کېدو غوره دي.

- ❖ څو به خولې سره للوئ/ ځړوئ، څوک چې خوند درکوي په پوره جرات سره ټېر ورته ووهئ او ورته ووایئ چې هر څهٔ چې کوې کوه یې، په ډگر درسره مینه لرم.

- ❖ آلماس، طلا او نور قیمت‌بیه څیزونه له خاورو لاسته راځي، خو عزت خاورو ته مه پسې لېږئ چې درته رایې وړي، که عزت مو پسې ولېږه عزت به مو خاورې شي.

- ❖ ژوند به ښکلی وي خو ځینې ښکلي هم ولا که ترې کم وي.

- ❖ سرتېري له عادي انسانانو هم نرم زړونه لري، دا چې دوی د ټوپک له خولې په ځینو گولۍ ورخوشې کوي، د وحشت دماغ پرې

اراموي.

❖ تاسو خبر يئ؟ ښه چې نۀ يئ خبر نو خبر شئ، مينه هغه کار دی چې ورځېنه/ اجوره يې په مچکو ادا کېږي.

❖ ښځې يو لطيف او نازک مخلوق دی، نازک چلند يې مينې ته اړباسي؛ زور، توهين او کرکه کول ترې ښې پايلې نه لري.

❖ ځينې منافقت ته مخالفت وايي، مخالفت د رغون لپاره وي او منافقت د بربادۍ لپاره، نور يې گز کوئ.

❖ عاشقان عادي او له مصروفيت خالي ژوند غواړي، نه غواړي چې مصروفيت يې د عاشقۍ مخه ډب کړي.

❖ هغوی چې تنها مو پرېږدي ستاسو د کمپلې ارزښت هم نه لري، خپله کمپله ښه په غېږ پورې ټينگه ونيسه او هغه وخت چې هغوی ته د کمپلې پر ځای ورکړل شوی ؤ له کمپلې پرې ښنه وغواړه.

❖ مهمه نه ده چې څوک د مينې پر معنا وپوهوو، مهمه دا ده چې مينه وکوو، هغوی چې د مينې پر معنا نه پوهېږي، موږ به ورته تجربه شو او هغوی به پوه شي.

❖ د خپلو هيلو لپاره د بل چا د هيلو خاورې کول ناځواني ده، له هغې ښه ده چې خپلې هيلې خاورې کړې.

- ❖ زړهٔ ته راغلي خلک د زړهٔ په پاچاهي اوصولو کې ممنوع الخـروج اعلانېږي.

- ❖ مېَن ته مینه ورکول اسانه کار دی، مېَن ته یو جار / ځـار ویـل هـم لویه فتحه ده.

- ❖ مینه د عقل کار نه دی، نو بیا د مینې د لېونیو له لېونتوب گیله هم مه کوئ.

- ❖ فاصلې ښې وي؛ په چا دې قدرمن کوي او څوک درقدرمن کوي، کله کله په رضا هم واټن نیول په نژدېتوب کې همکاري کوي.

- ❖ ترخې ښځې خوږې خبرې، قندولکې / خوږې کولی شي، که ورته ومو ویل چې زما لیلا، زما د ژوند رنگینې، بیا نو مـزې وهـئ او لـه ژوند مچکې اخلئ.

- ❖ لکه معشوق چې د معشوقې په لېدو خوشالېږي، همدغسې وجدان له بل سره په مرسته کولو خوښېږي.

- ❖ له ځان نانځکه مه جوړوه چې هر څوک دې ولوبوي او بیا دې له ساعت‌تېرۍ وروسته بهر لمر او یخ ته تنها پرېږدي.

- ❖ لکه یـو څـوک چـې پـه خبـرو کـې د یـو چـا د پـام راړولـو لپـاره ټوخېږي، دغسې د مینې ښودلو لپاره جار مېَن ته سترگک کېږي.
- ❖ په یوه خفه ورځ شل خوښې ورځـې مـه خرابـوئ، یـوه وزغمـئ د

شلو د بیا تکرار هڅه وکړئ.

- روانې ناروغان چې میَن نه شي نو علاج یې مشکل کار دی.

- فکر کېږي چې ځینې خلک هېڅ غم او درد نه لري، خو دا ناشونې ده، دوی تل په شونډو موسکا نخولې مګر که موسکا یې وځکل شي خوارۀ او تراخۀ اړخونه به لري.

- که ژبې مو د مینې د اړیکې د ټینګولو لپاره جرات نه لري، نو که لاس ورکول سره کوئ، بیا یې په لاس، لاس ورټېنګ که، خو دومره هم نه چې هډوکي یې تس وهي؛ نرم، ورو، ورو.

- په دې یوویشتمه پېړۍ کې په یارانه کې رویبار مویبار کار نه ورکوي، که یارانه مو له ستونزو خالي غواړئ خپله یې په مخ بوځئ.

- که چا وویل چې هغې ته یادولې چې نۀ دی ښه، نو ته باید په دې وخت کې د تاریخ لیکلو له میتود کار واخلې، مقصد دا چې دا د دویم لاس معلومات دي او د دویم لاس معلومات له لومړي لاس معلوماتو تل کمزوري وي، تاریخ لیکونکي د لومړي لاس معلوماتو ته ارزښت ورکوي.

- برېتونه پورته کول نه دي مشکل، د برېتونو د پورته کولو لپاره سړیتوب مشکل دی.

❖ منطقه/ سیمه په خلکو ښکلې وي، ژوند په مینه ښکلی وي او مینه په تهٔ او زهٔ ښکلې وي.

❖ فکري ښکلا مو هغو ځایونو ته رسوي چرته چې الوتکې او مصنوعي سپوږمکۍ هم نه چلیږي.

❖ لوی خلک، خلک نه رسوا کوي لمر د ورځې په جریان کې ډیر څهٔویني، خو ډیر څهٔ نهٔ وایي.

❖ خوبونه په خوبونو کې لیدل کیږي، ویښ خلک خوبونه نه، کارونه کوي.

❖ که ژبه مړه شوه نو د غومبري په کنده کې یې ښخه کړئ، ایله به ژوندي شي.

❖ د ګوتو منځونه د یو بل کس په ګوتو ډک کړئ، د عشق ریاضي د خالیګاوو د ډکولو لپاره رامنځته شوې، نهٔ د خالیګاوو د رامنځته کولو لپاره.

❖ په عاشقۍ کې سپین سترګي خوند کوي، که خفه هم وئ ورغږیږئ، که خفه هم وي ورغږیږئ.

❖ راغورځېدل د خفګان وړ نهٔ دي، خو دا د خفګان وړ ده چې نیوتن دې نه‌شته.

❖ د موبایل دوې لارې په ژوند کې پلې کړئ، د خوښۍ ورځې

کاپي کړئ او د خفګان په ورځو کې یې پیسټ کړئ.

❖ مرګونه رټ سړي نۀ کوي بلکې مرګونه بزدله/ بې زړۀ خلک کوي، رټ سړي وېره نه پېژني بې زړۀ خلک وېرې اخیستي وي او (هله چې مړ مې نه کړي) پرې مرګ کوي.

❖ کله چې دانې په خاورو کې ښخې شي رازرغونېږي، کله چې سترګې په سترګو کې ښخې شي، مینه زرغونوي.

❖ ارمان لرل د ژوند کولو بهانه ده او ښۀ پرېمانه ارمانونه لرل پکار دي، ارمانجن پاتې کېدل حتمي دي نو د ارمانونو د پوره کولو هڅه کوئ که بریالي کېدئ نه، کیسه کې یې مه کېږئ.

❖ یو کس مو د ژوند د خوښۍ لپاره کافي دی، د زړۀ له بېخه/ تله مینه ورسره وکړئ، ډېر انتخابونه مو ډېر زیانمن دي، آن یو به هم د تاسو نه شي، یوه مینه وکړئ خو ښه مینه وکړئ.

❖ غریبي ذلالت نه دی، ذلالت بېفکره او له خېټالوژۍ غړېدل دي، غریب دې یې خو شتمن فکر ولره.

❖ د سیند زور به کورونه او ودانۍ وړي خو د سترګو مالګین ځاځکي زړونه له بېخ راوباسي، د چا له سترګو اوښکې ونه بهوئ، هیله کوم.

❖ دومره تنهایي هم نۀ وي ښه، چې نه د چا د راتلو کیسه کې وئ نۀ د چا د تلو کیسه کې وئ، دې ته بیا مړی ژوند وایي، باید د یو چا

كيسه كې خو وئ.

❖ پر څۀ چې نۀ پوهېږئ نو ګوتې په كې مه وهئ، ځينې موضوعګانې لكه بم پوزه او خولۀ درپړسوي.

❖ څپلۍ او بوټان جوړه جوړه ګرځي، نو بيا انسانان ولې جوړه جوړه ونه ګرځي؟ غبرګ ګرځئ پاګلو.

❖ هوايي جهازونو كه د بمونو پر ځای ګلان راشيندلی، ټوپک كه د مرمۍ پر ځای ښكلي غړونه ورولی، هاوان كه د توغنديو پر ځای هوا ته د اورلوبو رنګيني شيندلی، د ټانک او د توپ مېلونو كې مرغيو ځالې جوړولی، ژوند به خوند نه كاوه؟ نو چې خوند به يې كاوه د همداسې طرحې لپاره دې انسانان هڅې وكړي، ګورو به چې بيا به ځمكې ته له نورو سيارو مخلوقات ساعتېرۍ ته راځي.

❖ كينه وژونكې وسله ده، پر ځمكه يې كېږده او له دې تسليمۍ خوند واخله.

❖ يوه شيبه خندا مو د ټول ژوند لپاره بسنه كوي، ځكه ژوند يوه شيبه دی.

❖ ګيلې د بدو خلكو كار هم نۀ دی، ګيلې غيرتي خلک كوي، بې‌غيرتان ګيلې پېژني هم نۀ.

❖ لوبې له پلاستيكي او بې روحه شيانو سره وكړئ او په دې برخه كې چين ستاسې د ذوق خړوبولو لپاره د لوبو د وسايلو كار تر

ډېره کړی دی، له انسان سره لوبې ځکه مه کوئ چې کـوم هېـواد یې تولید نه کوي.

❖ چا ته ورتگ د ځان عادي کول نهٔ دي، د هېوادونو ولسمشــران او پاچاهان هم د یو بل هېواد ته ورځي، خو که هرکلی او پایلې یــې چندانې نهٔ وې بل ځل بلنه یې لغوه اعلانوي.

❖ ځان تشویقول او پر ځان د شاباش غږونه کول او پر ځـان مېَنـدل لوی هنرونه دي.

❖ د کم‌عقلۍ لپاره گولۍ کتابونه او د کم‌عقلۍ د تشخیص روغتونونه کتابتونونه دي.

❖ مهرباني په انسانونو کې جنت او کرکه په انسانانو کې دوزخ دی.

❖ نشه‌یان چې هر رقم وي، خو په رښتیا ویلو کې له موره یو دي.

❖ کله کله گوښي/ تنها کېناستل، یو چاینک چای یوه پیاله او له ځان سره حساب کتاب، د پاچاهانو کار دی.

❖ کله دې چې مینه غېږ کې ونیسي بیا ځان سســت ورپرېـږده، کـه د وتلو لپـاره دې لـه زور کـار واخیسـت د گڅـې سـینې پښـتۍ دې خوږېږي او ماتېږي.

❖ مینه تر وادهٔ کولو پورې تشه داسې ده لکه د ماشومانو ملگرتیا چې تر پاپړو اخیستلو پورې وي.

❖ کوم کار چې کولی هم شې، خو چې خوند په کې نۀ وي مه يې کوه، د کارتوس/ مرمۍ په گردش/ څرخېدو کې د نڅا خوند نه‌شته خو نڅا کولی شي.

❖ د ټولو انسانانو زړۀ يوه ټوټه کم دی، دا چې زړونه مو پوره وي او نيمگړتيا ونه‌لري، شاه مېَن ته ضرورت دی، ځکه خو ورته وايو چې تۀ څۀ يې!؟ تۀ مې د زړۀ ټوټه يې.

❖ که مېَن/ مېَنه مو ناحقه بدگمان وو او درته ويې ويل چې ستا اړيکه مطلبي ده، نو ورته ووايه چې هو مطلبي ده او مطلب مې تۀ يې کنه.

❖ چوپتيا هېڅ شته نه، همدا چې چوپ کينئ په دماغو کې به مو د ژوند د فلم شورناکې صحنې سټارټ/ چالانې شي.

❖ يو څوک درنه مري، خو گوزاره مو که ورسره ښه وه تر ډېره به زړۀ ډاډ درکوي چې ځه شکر له ما خو خفه نۀ ؤ.

❖ بوجۍ که د ډالرو هم وي نوم يې چندان نه لگي بوجۍ! ځينې شتمن خلک لکه بوجۍ، چې پيسې ترې ايسته کړې خلک يې په لغتو وهي.

❖ يوازې هغه ډاکټران چې عاشقي يې کړې وي، د عاشقانو ناروغي تشخيص کولی شي باقي يې پر يو دوه هم نۀ پوهېږي.

❖ د سختيو په وړاندې کرار اوسه، شور اکثريت ميده/ وړې اوسپنېزې روپۍ کوي. غټې چلښتنوټونه شور نه کوي.

❖ ازمايلې به مو وي، کله چې د تروشې کورنۍ پر مېوې لکه مالټه باندې مالګه واچوئ تروشوالی يې کمېږي، دغسې ګرمه غېږه ګرم زړهٔ يخ کوي.

❖ د عاشقۍ په مذهب کې له نېژدې تش سلام ناروا دی، غېږه په کې واجبه ده.

❖ سرتېري ته وسلې هم دومره انرژي نهٔ ورکوي، لکه د خپل ولس د ماشومانو او ځوانانو يو ګوډ او لايک ورکول چې کومه انرژي ورکوي.

❖ که چا په بد صفت ياد کړې، پوه شه چې خپله هم هغه د دې صفت خاوند دی، ځکه چې د ځان فکر پر نورو هم کوي.

❖ پوچ/ بدرنګ الفاظ کارونکي ته په ښو الفاظو غبرګون ښهٔ وي، خو که بيا هم بدرنګ غږېده، نو بيا يې ځواب په داسې بدرنګو الفاظو خوند کا چې له خپلو بدرنګو الفاظو يې زړهٔ تور شي.

❖ انسانان ژوند تېروي نه، ژوند کوي، ګنې حيوانات هم ژوند تېرولی شي.

❖ لکه انسان چې د وينې له کمښت سره مخامخ کېږي او يو خپلوان

یې راجگیږي وینه ورکوي، دغسې وطن هم کله کله وینې ته اړتیا لري، سرتېري هغه دواطلب کسان دي چې وینه ورکوي او د وطن ژوند ژغوري.

❖ روح کومه عضله/ غړی نه دی چې ډاکټر یې د ارامولو درمل درکړي، یوازینی درمل یې د جار میَن مینه ده او بس.

❖ هغوی چې له درده نارې وهي، خند مه ورته گرځئ؛ امبولانس چې انگولاوې کوي حتمن سخت څۀ پېښ شوي وي او خلک لاره ورته خوشي کوي.

❖ هندسه داسې زده کوه؛ د دایرې د زده‌کړې لپاره بنگړي په یاد ساته، بیضوي ته زنه په یاد لره، مثلث ته د ټنډې روپۍ مه هېروه، لنډه دا چې د هندسې شکلونو ته د گران د شکل برخې مثال گرځوه، بیا مو چې نه شي زده ذمه‌وار مو یم.

❖ ژوند په زړۀ پورې دی هغوی چې ژوند بدرنگ گڼي نو دومره مهرباني خو دې وکړي، چې نورو ته یې بدرنگ معرفي نه کړي.

❖ په ټيټ قدو پورې ځکه مه خاندئ چې تاسو په ستړي مه شي کې ورته ټیټېږئ، او په لوړ قدو پورې ځکه مه خاندئ چې مخ کتو ته یې سر او سترگې داسې پورته کوئ لکه بېوسه.

❖ بهرنیو هېوادونو ته سفر تقریباً د سات‌تیري چکر دی، خو له مینې تلل د سر چکر دی.

❖ زړونه مالوچ نهٔ دي چې په لښتو یې ووهو راویې پړسوو، څو ارام پرې ویده شو، زړونه کـه ووهـو، راوبـه یـې پړسـولی شـو خـو د زګېرویو او چیغو له امله پرې خوب نهٔ شو کولی.

❖ خبرې ډېرې زده کړه خو، لالي/ لالیٰ ته یوه خبره ډېره کوه؛ له تـا سره مینه لرم، له تا سره مینه، له تاسره مینه لرم، له... .

❖ پاګل‌توب لکه وایرس، له کم‌عقلو ډېر عاقلانو ته انتقالېږي.

❖ زړهٔ ځکه مه خورئ چې که زړهٔ وخورئ درپاتې به څهٔ شي؟ مرګ!

❖ بریالي خلک دا جمله(هېڅ هم ناممکن نه دي) لکه سوي عاشـقان چې سندره کوي له ځان سره زمزمه کوي.

❖ نوي میَنان سترګک ته یوه سترګه مکمله په ورغوي پټوي.

❖ د بنډار په انتخاب دماغ وخوره، ګنـې اوزګارخېـل دې بېخـي لـه دماغو خلاصوي.

❖ قرضداري خالي یو رقم خوند کوي، چې یـا دې مچکـه پـه قـرض وي یا یې مچکه درقرض وي، نورې قرضدارۍ وېښته سپینوي.

❖ یو خبرې دي بـل مبـرې دي، خبـرې ښـې دي خـو مبـرې هسـې کیسې دي.

❖ هغوی چې ژاړي باران یې خوښېږي، فکر کوي چې تش دوی نهٔ

ژاړي او رښتیا فکر هم کوي.

❖ د مېن جغرافیایي سمتونه/ طرفونه په ګاونډیو هېوادونو نهٔ خوښېږي، بس چې کوم طرف یې مینه ژوند کوي او وي هم هغه طرف ورګران وي.

❖ امن مو په لاسونو کې دی او موږ یې له خدای غواړو، وسله مو خپله جوړه کړې او په خپله یې چلوو.

❖ د انسان د ژړا او د باران تر منځ خالي دا توپیر دی چې باران له چترۍ نه شي وتلی خو اوښکې له زړهٔ وځي.

❖ ځینې یو کیلو وي او سل کیلو وزن لري ځینې سل کیلو وي او یو کیلو وزن هم پوره نه لري.

❖ جګړه لکه د مار ګېم دی، ډېر انسانان به د داني غوندې وخورې، خوراک به دې یې چاغ کړي او اخر به پر ځان هم خولهٔ لګوې او هر څهٔ به له دې سره ختم شي.

❖ چې سترګې وسولوې، ارګمی وکړې، لاسونه کش کړې، مخکې له دې چې شاوخوا ته وکسې د ژوند ملکې ته دې وکسې بس دماغ به دې ارام او زړهٔ به دې باغ، باغ وي.

❖ په تا مېن هغه چا ته ویل کېږي، چې له خندا او غوسې دواړو سره دې مینه ولري او تهٔ مېن هم همدې ته وایې.

❖ مرگ خپله هم مري، ژوند ځکه وکړئ چې بېخي يې مړ کـولی نـه شو.

❖ رب ډېر مهربان دی، ژوند ډېر ښکلی دی، کتاب ډېر ښهٔ دی، مينه ډېره خوږه ده، غم ډېر ډېر دی، خوښي ډېره کمه وي، لالی/ لالی ډېرره چسکې وي.

❖ خوشـبين اوسـېدل ژونـد درجـوړوي، بـدبين اوسـېدل کـوپړی درخوري، دوربين اوسېدل د ژوند ميکروبونه درپېژني.

❖ کله چې سپی وروزې، د ځينو ملگرو پېغور حتمن درکوي.

❖ هغوی چې خپلې گوتې پـه گوتـو کـې درننباسـي، د ژونـد واگـې ستاسو په لاسونو کې درکړي، ډېر په معصومانه انـداز درتـه ووايـي چې بيايه مې، پام چې په کږلېچنو لارو يې ورسم نه کړئ.

❖ ټولې اوښکې معصومې نهٔ وي کله کله فرېب او دوکه وي، د ځينـو اوښکې لکه پر تور قير شوي سړک سپينې کرښې يـوازې دې نظـر جلبوي نور دې پرېږدي.

❖ د خوږو خلکو له لاسه درد په درد نه حسابېږي، ډېر ځله لـه خـوږو شيانو سره خوله خوږل کېږي او بس ايله دومـره ويـل يـې خونـد کوي آله خوله مې ورسره وخوږه.

❖ هر څۀ خپل ښۀ ښکاري: خپل جوړولی شو، خپل ځان، خپل وطن، خپل خپلوان دا ټول خپل، خپل.

❖ له ځانونو اندازه‌گر مه جوړوئ، د خلکو ارمانونه اندازه کوئ مه، ارمانونه یې درک کوئ.

❖ آن میَنانو ته د موټر ډېر سپټونه/ چوکۍ هم له زغم بهر وي، غواړي یوازې یوه څوکۍ موټر کې وي، ګنې دوې خو بېخي بسنه کوي نو میَنانو ته رش مه ورجوړوئ.

❖ ځان درک کړه، که تمبل‌شاه وې نو بېخي لویې هیله مه لره، ځکه نه وررسېدل دې کیدای شي ځان وژنې ته وهڅوي او ځان وژنه چندان حلاله نه ده.

❖ په انسان کې چې زړۀ رپ وهي سا اخلي او په وطن کې چې بیرغ رپ وهي ژوندی دی، د انسان زړۀ، زړۀ دی او د وطن زړۀ بیرغ دی.

❖ په زنده‌ګۍ کې ډېر شیان ځي مګر بیا هم راتلی شي خو په زنده‌ګۍ کې چې زنده‌ګي لاړه شي هغه بیا نه شي راتلی، نو زنده‌ګي یو ځل ده او باید چې ښه او په خوند وشي.

❖ د ځینو له تللو سره کلونه او وختونه نه صفر کېږي، خو خوښی د صفر په لور نېژدې کېږي.

- داسې ده چې ملګرتیاوې لږې ډېرې لږې دي او پېژندګلوۍ لږې پرېمانه ډېرې دي.

- مینه تشو الفاظو او ای لب یو مای لـب یـو تـه نـۀ وایـي، مینـه نـۀ لیدونکی تار دی چې زړونه پیوندوي.

- عشق کوم ښوونځی موونځی نه دی چې ترې فارغ شو.

- دا هسې خبرې دي چې ژوند ته مو څوک نۀ پرېږدي او که څوک مو ورته پرېږدي بیا به یې په خوند وکړو، ژوند ته ځانونه پرېږدئ که په خوند یې کوئ.

- د ښکلا له تعریف پروفیسـرانو منـډې وهلـې دي، همـدا چـې پـه سترګو ښکلا درته ښکاري بس ښـکلا ده نـورې چټـي وټـي خبـرې دي.

- څمکه یوازېنۍ سیاره ده چې پر مخ یې د ورځې او شپې سـتوري د حرکت په حال کې وي، ستوري یې مینه هـم کـوي، وینـه هـم ورکوي، سا هم اخلي او سرتېري نومېږي.

- شین پټی/ ځمکه دماغ تازه کوي، انسان ورسـره د ارام سـا کشـوي خو، شین‌فکره خلک دماغ درشنه کوي، سا درتنګوي، واټـن تـرې په کار دی.

- ژوند خوندور دی، خپله هـم ژونـد وکـړئ نـور هـم ورتـه تشـویق کړئ، خپله ژوند کول هم د ژوند یو خوند دی بـل ورتـه هڅـؤل

هم د ژوند خوند دی، چې سره جمع يې کړې دوه خوندونه کېږي او جمع کول يې هم يو خوند دی همداسې پسې تر اخره پورې... .

❖ ځان پېژندنه خدای پېژندنه ده، وطن/ هېواد پېژندنه نړۍ پېژندنه ده، مينه پېژندنه زنده‌گي پېژندنه ده ، پېژندونکي پېژني، پېژني.

❖ تباه مخلوق خدای پېژني ځان نه پېژني، نړۍ پېژني وطن نه پېژني، زنده‌گي پېژنې مينه نه پېژني او بلاخره پېژني نۀ پېژني.

❖ له انسانانو عزت مه اخلئ، عزت د انسانانو انسانيت دی له بې‌عزتو انسانانو وحشيان جوړېږي.

❖ کله چې دولتونه د وطنوالو د ښۀ ژوند په لټه کې وي نو بيا دې داسې وکړي چې په هېواد کې دې د کم‌عقلانو د سمؤنې کمېسيون هم پرانيزي.

❖ ژوند د قرعه‌کشۍ/ پچې‌اچونې لوبه نه ده چې په بخت يې وګټو، ژوند په هڅو او زړورتيا ګټلی شو.

❖ د رابطې/ اړيکې تړل په ليدلو، اورېدلو، او غږېدلو کېږي او ټينګېدل يې د يو او بل په درک کولو پياوړتيا مومي.

❖ مينې ته څوک په زور مه مجبورئ هسې نه پر وينه بدله شي.

❖ عاشق او معشوقه د يو بل خبرې اوري خو د زړۀ په غوږونو، د يو

بل څهرې ويني خو د زړۀ په سترګو، عادي خلک خبرې اوري خو په غوږونو، کتل کوي خو په سترګو، مګر د زړۀ نه.

❖ هغوی چې زړونه يې زاره چاود شوي جرات به ونه کړي چې د چا زړونه مات او ذره کړي.

❖ له حده ډېر ليدل او مخامخ کېدل نۀ وي ښۀ ځکه خو د خپل کلي پېغله خوندوره نه ښکاري.

❖ څومره چې عصرياتو ته ځو دومره ژوند مشکل کېږي، د ژوند رنګ او خوند په ساده‌توب کې پټ دی.

❖ که مېَنان شوئ بيا به ونه وايئ چې له فزيکي کاريګر څخه ولې د دفتري کارکوونکي تنخوا جګه ده او يا ووايئ چې دفتري وظيفه اسان کار دی روحا ستړيا بل رنګ ستړيا ده کنه.

❖ مېَنان ډاکټرانو، ملايانو ته مه بيايئ، جار مېَن ته يې بوځئ، خپله به ټيک ټاک شي.

❖ ښځه کومه د لوبو آله نه ده چې سات/ ساعت ورسره تېر کړو، خو هو، ښځه د موسيقۍ آله ده چې په مورِ ځان چېږي او بيا مو زنګوي، له غمونو مو لرې وړي او له وجود په راڅخوونکې موسيقۍ مو نشه کوي.

❖ د يو عکس اخيستو لپاره هم کوشش کوو چې شا ته بګراونډ مو

ښکلی او ښۀ راشي، که چرته بګراونډ خراب وي ټول عکس هم ورسره ډيليټ/ له منځه وړو، نو د ژوند د بګراونډ هم ښۀ ساتل پکار دي، ګنې په نشت به حساب يو.

❖ ژوند لکه اوږد سيند، نو پورې کېدو ته يو پلن پُل ته اړتيا لري، پلنه سينه مو دا اړتيا پوره کولی شي.

❖ مينه سخته خوږه ده دومره لکه قند، که چېرته د مينې درد درته خوږ نۀ و نو بيا تاسو مېَن نه يئ خدا چيشی به يئ.

❖ جګړه هم هغه بد نوم دی چې ژوند ته د خولې خوند خرابوي.

❖ که له موسيقۍ د بم او وسلو غږونه ښکلي وای نو سپي به پسې نه غپېدلی.

❖ په ځمکه کې پورته بلې سيارې ته ختونکي خلک پوهان او وياړونه ګڼل کېږي او د پاسنۍ بلې سيارې ځمکې ته راښکته کېدونکي خلک به پوهان او وياړونه بلل شي؟ خامخا به وبلل شي نو په ژوند کې ښکته/ ژورې پورته/ لوړې دواړه ښې وي.

❖ خدای زۀ او تۀ دواړه پيدا کړي يو، خو دا زۀ وم چې (تۀ) مې پيدا کړې او دا تۀ وې چې (زۀ) دې پيدا کړم، نو مينه او ملګرتيا به ما او تا پر خپل ځای وساتي ګنې بيا به نه يو.

❖ وطن لکه پلار، عسکر لکه زامن يې، پلار پر زامنو ناز کا او پرې

ډاډه وي ، وطن پر عسکرو.

❖ له هر چا، له ما سره څومره مینه لـرې؟ پوښـتنه مـه کـوئ، ځینـې دومره مینه کوي چې په اندازه کې یې بې‌وسي وي.

❖ خیانت هغه چاودنـه ده چـې وجـدان مـو لـړزوي، سـوکاله ژونـد بې‌خیانتـه ژونـد دی، مینـه نـه تنـده ده نـه لـوږه، ځکـه تنـده لـه خړوبولو وروسته ورکه کېږي، لوږه له خوړولو وروسته، مینه کیـف دی.

❖ هغه نجونې/ نرینه چې زړونه ماتولی شي د جراحۍ په برخـه کـې هم زبردست کار کولی شي، ځکه زړونه یې پر چا نـه خـوږېږي او دا د جراحۍ لپاره لومړی شرط دی.

❖ عشق هغه لوفري ده چې خلک په کې د خلکو زړونه تښتوي.

❖ رواني/ روحي ډاکټران دې د مینې او محبـت اړونـد کتابونـه زده کړي، ناروغانو تـه دې لـه هغـو کتـابونو نسـخه ولیکـي او نالوسـتو ناروغانو ته دې یې کیسې وکړي خپله به جوړ شي.

❖ ژوند لکه ګوشکۍ، چې ملایان یا دینـدران پـه کـې دینـي دعـظ، عاشقان په کې عشقي غزلې او سندرې خبرې کوونکي په کې د یو او بل خبرې او مزاحمت کوونکي په کې شړهاری کوي.

❖ د زړهٔ د خوږېدلو درمل غږېدل دي او د ذهن د خوږېـدلو درمـل

له منفي فکرو منډه وهل دي.

❖ ښکلا د مینې ټیکه/ ذمه واره نه ده، ښکلا خپل رنګ په وخت تېرېدو سره له لاسه ورکوي مګر مینه تل پاتې کېږي.

❖ پر دې مه پښېمانه کېږئ چې زۀ ولې مېَن شوم خو دا پښېمانتیا درسره منم چې ځان ته وایئ ولې ما دومره وروسته مینه پیل کړه؟

❖ کله کله له لومړنۍ مینې دویمه مینه اول نمره شي، کله کله اول نمره هم دویم نمره کېږي، هېرول بېله خبره ده، مقصد په دویمه مینه لومړۍ نه هېرېږي دا د مینې یو تقدس دی.

❖ له زړۀتنګۍ غچ اخیستل له شاعرانو زده کېږي، دوی بلا خلک له زړۀتنګۍ شعر جوړ کړي، خپله هم ترې خوند اخلي او نورو ته خوند ورکوي او که څوک شعر نه شي جوړولی، خیر دی مېر ترې جوړ کړئ.

❖ وچ زېبښلی رنګ د هجر خوړلي مېَن پر مخ، د مینې د تائید ټاپه/ مهر دی.

❖ سړیخواره مې تش په فلمونو کې لیدلي وو، خو نه اوس مې رښتیا هم ولیدل، هغوی چې زړۀ درخوري بیا سړیخواره نه دي؟ دي!

❖ تۀ خپله تۀ یې او نور خپله نور دي، هر څوک واوره چې څۀ درته لري، بیا خپل تۀ پوه شه چې څۀ کوې.

❖ حقیقي مینه همدا چې تش شتون یې ارامي دربښي او غم یې په شتون وهم نه پېژني چې غم له سره دی چیشي.

❖ یوازېنی بوټپاکي چې تاسو غلام نه بلکې اتل کوي د مور د بوټانو پالش کول دي.

❖ مینه یو ورېم دی گنې ړانده به نه میَندلی.

❖ ژوند ته به سست سست کېږې نه، که ورته سست شوې پر ځمکه دې ولي.

❖ دا چې ځینې پوښتي چې مینه خوند ډېر لري که درد؟ وایم مینه خالي خوند لري، درد په کې نشت دی خو چې مینه، مینه وي.

❖ مینه او همدردي یوازې انسانان نه پېژني، حیوانات یې هم پېژني هغه انسانان چې مینه نۀ پېژني حیوانات نه خدا چیشی به وي.

❖ خبرنگار/ خبریال هم هغه بې وسلې سرتېری دی چې خلکو ته یې د جنگ لومړی کربښه وروپېژنده او خلک یې خبر کړل چې د جنگ په لومړی کربښه کې څۀ روان دي او جنگ کومې ناوړه پایلې لري.

❖ په ملگرتیا کې کلک د شیدو چای مهم نه دی، کلکه ملگرتیا مهمه ده او هغه هم د سپینو شیدو غوندې کلکه.

- ❖ په اړیکو کې زغم، زغم، زغم خو که زغم ته د زغملو بهانه ختم شوه نو داسې خدای په اماني ورځخه واخله چې بیا سلام دراچولو ته هم موقع ورته نه وي.

- ❖ مینه راز نه دی، رازونه مه رسوا کوئ مګر مینه پر رسوایۍ ارزي چې رسوا یې کړئ؛ ډېر هغه څوک چې تاسې په اور ارزوي اور به واخلي .

- ❖ د ځینو خلکو خبرې دردمنوالی نه لري خو څېرې یې له درد نارې وهي، دوی د ژوند پوهان دي او ژوند ژوند ګڼي، نه ماتېږي.

- ❖ غم او خفګان مضر وایرسونه دي چې ژوند مو له خنده او ځنده سره مخامخ کوي، خندا اینټي وایرس ده، خامخا یې وکړئ.

- ❖ هر څوک او هره صحنه ژر مه ثبت کوئ، زړهٔ خو څهٔ موبایل نه دی چې په ثبتو شوو شیانو کې ډیلیټ او ایډېټ وکړې.

- ❖ مینه او همدردي یوازې انسانان نه پېژني، حیوانات یې هم پېژني، هغه انسانان چې مینه نهٔ پېژني حیوانات نه، خدا چیشی به وي.

- ❖ هغوی چې وعده نه کوي بد خلک نه دي، هغوی چې وعده کوي او پوره کوي یې نه، دوکه‌بازان ورته وایي.

- ❖ د مېَن انسان په پرو/ قطعه‌بازي کې هم د زړهٔ واله توس خوښېږي.

❖ ډاډ د بل چا په جیبونو کې نه‌شته، د سینې په ګڅ جیب کې پیدا کېږي، هېڅوک له خپل جیب څۀ، ستا له جیب یې هم نه درته راوباسي، روایې خلئ عید ته یې مه درته ږدئ، هسې نه تر هغې مړۀ شئ او ډاډ په جیب کې دروروست شي.

❖ که مېَن مو چندان مېَن نۀ وي، تاسو به چندان نه یئ، چندان خلک پر چندانو خلکو مېَنېږي.

❖ که مېَن مو پاچا شو، بیا نو مزې کوئ، مېَنان یوازېني انسانان دي چې د وژنو سرسخت مخالفین دي، د دوی هر فرمان به ژوند ته د راتلو امرونه کوي.

❖ درد لکه ماشوم داسې دی، په وهلو نور هم شور کوي، په مچکو یې په عذاب کړئ، څو یو څو شیبې د بیا ډېرو ښکولولو له وېرې درنېژدې نه شي.

❖ د سرتېري درېشۍ ته احترام کوئ، د سرتېري د درېشۍ له زور دښمن وپوښتئ، درته وبه وایي عسکر مړ و خو درېشۍ یې ووېرولم او برګ برګ یې راته کتل.

❖ زړۀ حقیقت نه پېژني، آن درزا د همدې لپاره کوي څو نور وپوهوي چې رښتیا څۀ پېښ شوي.

❖ د قوماندان کېدو شرط یوازې عقلمندي او هوښیاري نه ده ترڅنګ یې باید زړۀورتیا هم موجوده وي او یوازې زړۀورتیا هم

نه ده، تر څنګ يې بايد عقلمندي هم موجوده وي.

- ❖ الوتل مرغان په وزرونو کولی شي، مګر انسانان يې په فکرونو کولی شي، مهمه نه ده چې وزر ونه لرې الوت نه شې کولی، مهمه دا ده چې فکر ولرې او بيا هم وانه‌لوځې.

- ❖ عشقیان مې ځکه خوښېږي چې انسانان يې خوښېږي.

- ❖ لکه څنګه چې د جاذبې قوه لري همداسې د زړه د جاذبي قوه مينه ده، يوازې مينه کولی شي زړه ته زړونه راکش کړي.

- ❖ مهرباني یعنې همدا چې کله پوه شې چې که زه يې وګټم نو د يو چا زړه به خفه شي نو ګټل کېدونکې لوبه په لوی لاس ورته وبايلې.

- ❖ زړه همغه نازک ځای دی چې بدې خبرې يې سوری سوری کولی شي.

- ❖ له چا عزت نه شئ اخيستلی خو ستاسو دا هڅه چې يو څوک بې‌عزته کړئ نور هېڅ پايله نه لري بغير له دې چې له ځان به د خلکو کرکه پيدا کړئ.

- ❖ فکر لرونکي خلک اکثريت ته ارزښت نه ورکوي پلټنه کوي او په دې توګه حقيقت ته ارزښت ورکوي.

- ❖ موږ حيوانات د هېوادونو په نومونو نه پېژني، موږ حيوانات د

انسانانو په توګه پېژني، دا انسانان دي چې انسانان د هېوادونـو پـه نومونو نوموي.

❖ څوک چې ساعت د فېشن لپاره په لاس کـوي، د وخـت ذره قـدر هم نه وي ورسره، یو ساعت خپل ساعت په ایېنه کـې ګـوري، نـو ربښتیا مې ونه ویل؟

❖ او د خوب پر وخت ټولو سوچونو او فکرونو ته لته ورکول پـه کـار دي او له ځان سره باید وویل شي اوس خـوب کـوم چـې راویښ شوم بیا ورسره ګورم او له دې سره کمپله باید پر مخ راکش کړو.

❖ د مېن/ مېنې عکس د دماغو پر دېوالونو راځوړنـد کېـږي او د زړهٔ په سترګو کتل کېږي.

❖ مینه همدا چې ټوله نړۍ درته یو طـرف تـه کـړي او مینـه مـو بـل طرف ته، بیا درته ووایي اوس څهٔ غواړې؟ وروړاندې شـې او مینـه کلکه په غېږ کې ونیسې او بس!

❖ د یو چا وژل وجداناً مشکل کـار دی او د یـو چـا ژغـورل وجـداناً اسان کار دی، نو وجدان له مشکلو کارونو سـره مـه مخـامخ کـوئ ګنې وبه مو وژني.

❖ غرور همدا دی چې فکر کوې زهٔ بشپړ یم، مګر خبـر نـه وې چـې دلته انسان نامکمل موجود دی.

❖ هغه ګل چې د مینې لپاره دروړاندې کېږي، چې وچېږي او چـې

رژېږي د يو زړهٔ خون درغاړې کېږي.

❖ د وطن عسکر مري مگر سا يې چرته ځي؟ ژوبل وطن ته اکسېجن کېږي.

❖ هغوی چې ځان مېَن بولي او د بل د معشوقې او معشوق پـه قـواره پورې خاندي ولاکه د نیمې روپۍ هم مېَن وي.

❖ مبارزه دې ته وايي چې ستونزه ووايي چې له څهٔ کاپر انسان سـره اوښتې يم او منده درنه واخلي.

❖ ملگرتيا په ټوډۍ او مرسيډېز نهٔ کېـږي، د زړهٔ پـه رېـز کېـږي څـو زياته مينه پمپ کړي.

❖ عاشقان په دوی پورې د ترلو شيانو خبرې له يو بل سره کوي او په دې سره غواړي د يو بل ژونـد تـه خپـل ژونـد ووايـي د پلانـي او پلانۍ خبرې نه کوي.

❖ بس چې يو څوک له خوښۍ وخندوئ بيا مو وجدان گورئ چـې له خوښۍ په هوا کې الوځي که نه.

❖ د مېَنانو زړونه لکه بنگړي ماتېږي خو له شوره نه لوېږي.

❖ ژوند له موره يو دی نو ويې نازوئ.

❖ په مېَنانو کې د خوند حس بېخي پرېمان اېښودل شوی وي، دوی وايي خوږ/ خوږه وه او بس!

❖ ځینې خلک لکه مضر وایرسونه، ځان به پټ تړې ساتې، که درپورې خښ شول ژوند درنه اخلي.

❖ دا سوال چې مینه به څنګه لاس ته راوړم؟ دا ډېر کم‌عقل سوال دی، مینه زموږ په زړهٔ کې ده چې په زړهٔ کې شوه نو په لاس کې ده، نو لاس ته راغلې څنګه لاس ته راوړل کېږي؟

❖ ژوند خوږ نوم نه دی؟ دی! نو ولې بیا کرکه تړې وشي، هغوی چې له خوږو کرکه کوي مریضان دي او د ژوند له خوږه کرکه کوونکي دې یو دانه مێنه نسخه وخوري.

❖ د ځینو قوارې ترخې لګي خو دننه په کې یو من ګوړه وي، له دوی سره ملګرتیا او مینه بېل خوند کا، له لږې قهوې او ترخو چایو سره ډېر خواږهٔ ډېر خوند کا.

❖ او بلاخره په دې خاورینه سیاره کې یو ډول مخلوق دی چې ښکلې نجلۍ نومېږي، دوی د زړهٔ د خوږېدو لپاره خدای جوړې کړې ټابلېټې/ ګولۍ دي. یوه، یوه په ژوند کې نوشجان کوئ او زړهٔ مو له خوږېدو او دردېدو په امان کې ساتئ او ساتي یې.

❖ له سر تېرېدل د بل ژغورل عبارت له سرتېریتوب څخه دي.

❖ له یو کار وروسته پښېمانتیا پر ځان ملنډې وهل دي له ځینو کارونو باید مخکې پښېمانه شو.

- ❖ په دې نړۍ کې ډېر څۀ ښکلي دي خو که تاسو په ښکلي زړۀ او ښکلو سترګو ورته وکتل.

- ❖ هو یو مذهب شته چې هغه هېڅ مذهب نه دی، هغه د نورو د ځورولو مذهب دی.

- ❖ باران ډېر خلک پېژني خو ډېر کم خلک لاندۀ وي، مینه هم ډېر خلک پېژني خو ډېر کم خلک یې کوي.

- ❖ نیت کمي نور هېڅ هم نه دي خو د ځان ځورول او د دماغو شکنجه کول دي.

- ❖ کله چې خلک وغولول شي په ملک کې څو پاچاهان زېږېږي.

- ❖ ژور فکره اوسئ څو ارام واوسئ، پوهېږئ ارام سمندر ولې تر ټولو ارام سمندر دی؟ ځکه چې تر ټولو ژور سمندر دی.

- ❖ او لېونیان سړي چې د ښځو ناز او ادا هم ووینې وایي پلانۍ کبرجنه ده، خو دوی له دې نه دي خبر چې کبر او ناز بېله خبره ده او له دې هم نه دي خبر چې په نړۍ کې داسې ښځه نهشته چې نازداره نه وي.
- ❖ د چا په لېدو مو چې زړۀ برق نیسي نو ورمیَن یئ.

- ❖ زړونه لولئ؟ ښه نو بیا د سترګو لوستل زده کړئ.

❖ په دې نړۍ کې به هرڅۀ ووینئ داسې څۀ چې بېخي عجیب، نو بنۀ خبره دا ده چې یو څوک د نه منلو خبره هم درته کړي او تړاو یې له دغې دنیا سره وي تاسو ورته ووایئ کېدای شي.

❖ په ژوند کې تودې وزغمئ، چای که ګرم دی تنده ماتونکی هم دی.

❖ انسان‌پرستان د اوسېدو د سیمي نه دي او نه ځانونه ورپورې تړي، دوی د ټولې نړۍ دي.

❖ زړۀ له ډېرو درنېژدې خلکو بدېږي خو په کوچنیو تېروتنو د کلونو اړیکې له منځه مه بیایئ، د بیا رغښت هڅه یې وکړئ او په یاد ولرئ چې په یارانه کې بنګړي ماتېږي.

❖ د ملګرو په اړه فکر وکړئ په دوی کې به تاسو ته درګران ملګري ډېر ښکلي نه وي خو، ډېرې ښکلې کړنې به ترسره کوي، نو له دې ځایه معلومېږي چې ډېر ګرانوالی په ډېرو ښو کړنو رامنځته کېدای شي.

❖ هم هغه نړۍ چې هلکان ورکې شاهان او نجلۍ ورکې شهۍ دي او یو ځانګړی شاه او شهۍ نه لري بلکې ټول ورکې شاهنشاهي کوي هم هغه نړۍ د کوچنیوالي نړۍ ده.

❖ عاشقان داسې نۀ دي لکه بازان، عاشقان داسې دي لکه لومې د مینې مرغۍ په وژلو ځان ته نه خپلوي، په ژوندي نیولو یې د

ځان کوي.

❖ غلطۍ حتمن کېږي خو، یوځل، دوه ځله، درې ځله نـو شـل زره وارې خو نۀ وي، دې ته بیا سهوه نه، قصدي/ ارادي وایي.

❖ ملګری تش په غم کې نه معلومېږي په ښادۍ کې هـم معلـومېږي، کله چې دی خوښ وي او تـۀ ځینـې هېـر نـه شـوې، ملګـری بیـا ملګری دی.

❖ کله دې چې په مخ کې څوک پر کوم څۀ وشرمېږي نو وګڼه چـې نه مې څۀ لیدلي او نه مې څۀ اورېدلي، همدا انسانیت دی.

❖ دې ته نو کله خندا ویلی شو چې بل څوک وژړوي؟

❖ زړونه مه ځوئ، ګنې ستاسو پټې شوې مضرې باروتي کړنې به بهـر راوغورځوي.

❖ له موره یو/ یوې پورې مه خانـده، یـوې خـولې تـه دوه غـومبري هېڅ  هم نه دي.

❖ زړۀ تنګېدل تل ضرري نـه وي، کلـه د مجلسـونو او راټولېـدنو پـه وخت تنګېدل یې ګټور وي، زړۀ پوهېږي چې پـه چنـدان ځـای کې نه یم نو ځکه درته وایي پاڅېږه.

❖ ساعت د عقربې خلاف بې‌معنا وي، خو تۀ خو څـۀ سـاعت نـه یـې چې د زمانې خلاف نه شې تاوېدلی، ځینې وخت د زمـانې خـلاف

ګرځېدل اهم وي.

❖ تنبل شاګردان دې په یاد ولري چې د مینې یاد به یې په یادو یاد پاتې شي.

❖ په ژوند کې دا مهمه نه ده چې څومره ژوند کوې خو دا مهمه ده چې څنګه او څهٔ رقم ژوند کوې.

❖ هرڅوک خندلی شي خو هر څوک، هر څوک نهٔشي خندولی، دا هم یو هنر دی.

❖ که غواړئ چې بې له ښو خوړو مو وزن زیات شي ښهٔ کړهٔ وکړئ.

❖ کله چې د چا څخه په ژوند کې د پاتې کېدو تمه ولرئ، که په ژوند کې مو پاتې نه شي په زړهٔ کې ضرور پاتې کېږي، نو له تمې کولو مخکې د تمې د پاتې کیدلو د ځای په اړه سوچ وکړئ او بیا تمه وکړئ.

❖ ډېره چالاکي په ملګرتیا کې د کمعقلانو غوندي رول لوبوي ملګرتیا خرابوي ان له منځه یې وړي.

❖ حقیقي بریا خو څهٔ، د بریا اکشن کول هم انسان ته خوښۍ او سکون ښښي.

❖ په هارونو او په لاسبندونو کې مې زړونهٔ نه خوښېدل، ډېر په کم قیمت به خرڅیدل خو کله مې چې د انسانانو د زړونو خرڅول

ولیدل نو د لاسبندونو او هارونو د زړونو قیمت راته پرې لوړ ښکاره شوو.

- ❖ د تورو عینکو/ چشمو اچوونکو سترګې د نه شرمېدونکو رقم کتل کوي.
- ❖ مینه لکه باران، زړونه لکه ګلونه خدای پیدا کړي د یو او بل لپاره دي.
- ❖ پر سرتېري میَنه نجلۍ له وطن سره له ټولو نجونو ډېره مینه لري.
- ❖ که د سپي له غپا وتښتېدئ حملې ته به مو تشویق کړی وي.
- ❖ برياوې به مختلفې وي خو د لمانځلو انداز یې یو دی، آن که ډېرې کوچنۍ او یا ډېرې لویې هم وي، په کوچنیو بریاوو د لویو بریاوو لپاره موسک واوسئ.
- ❖ تنبل شاګردان دې په یاد ولري چې د مینې یاد به یې په یادو یاد پاتې شي.
- ❖ له پرېوتلو وروسته راپورته کول تل د مینې او خواخوږۍ معنا نه لري، کله کله ولاړ کس پرېوتلی کس د دې لپاره راپورته کوي چې خپله ونه لوېږي.
- ❖ عشقي اوسه څو یو ژوندپرست مخلوق درنه جوړ شي.

❖ کله کله د هڅوکو درد یو کس غواړي چې سمه ټسااا او تړکـا تـرې جګه کړي، که ټس یې وژباړل شي معنا به یې غېږه وي.

❖ کله چې د مینې تاریخ لولو مینې ډېر ژوندي مړهٔ کړي او ډېر مـړهٔ یې ژوندي کړي دي، مینه سا ده له چا چې لاړه شي مري او چا ته چې راشي ژوندي کېږي.

❖ د چا خفه کول ګران کار نه دی خـو ډېـر خلـک ځکـه دا کـار نـه کوي چې د ځان خفه کول نه غواړي.

❖ مینه په حقیقت پسې نه ګرځي مئن په نړۍ کـې میلیونونـه خلـک یوازې یو ګڼي، دا که ترې وپوښتل شي چـې دوه ځکـه دي چـې یو تهٔ یې او یوه دې مینه نو درته وبه وایي چې موږ اوس یو شوي یو.

❖ په مکمل محفل کې چې خـالي دی/ دا درګـوري نـو څـهٔ خـو بـه خامخا درنه غواړي.

❖ نوي له مینې سره مخ کېدونکي د زړهٔ د ګـراف د تـر ټولـو اوچتـو څپو شاهدان دي خو دوی ته ژوند وربښي او که دا څپې پـه بـې مینې انسان کې راشي له ټک سره یې مړهٔ کوي.

❖ عاشقان چلبازان دي، د معشوقې له خفګان وروسته لـه هغـې چـې ښنه غواړي نو په زنه یې نیسي.

❖ له تا سره پټه مینه لرونکي هغه وخت ښه معلومولی شې کله چې د لږ ډېر وخت لپاره د تگ په موخه له موټر یا اورگاډي او یا هم د طیارې له کړکۍ د خدای په امانۍ لاسونه ورپوې.

❖ موسیقي هر چا ته د همغه په ذوق یو څۀ وایي، ځکه خو ځینې ورته گډېږي ځینې ورته خاندي او ځینې ورته ژاړي.

❖ ځینې خلک د ځینو لپاره دومره مهم وي کله چې هغه له کوم ښار، کلي څخه لاړ شي د ملگري/ ملگرې لپاره یې ټول کلی یا ښار تللی وي.

❖ سترې مه شي په ټولنه کې مینه ډېروي، خو په ځینو سترې مه شیو کې د لاسونو له لارې له یو زړۀ بل ته او له بل زړۀ بل ته انتقالېږي.

❖ هېندارې ته ډېر کتونکي پر ځان ډېر مېَن وي.

❖ او کوم کتاب ته چې چای یا قهوه درنه یخ شي، پوه شه چې ژوند مو هم له گرم حالت څخه یخ حالت ته رسولی شي.

❖ هغوی چې سپي په غېږ کې نیسي مردار خواره نه دي، دوی غېږ پوهان دي .

❖ یوازې څو توري دي چې په هر ژبه کې د زړۀ زړۀ مېـږي کـوي، (مینه درسره کوم.)

- ❖ ښځۀ ژوند خرڅېږي او د ښځۀ ژوند د اخيستلو لپاره د چلښت سِکه موسکا نومېږي.
- ❖ د بېحوصلې خلکو کورونه د ليونتون نمايندهګان دي.
- ❖ څه که ډېر نه کېږي پنځه مېنټه خو چوپ شه، چې د چوپتيا له خوند برخمن شې.
- ❖ خاموش خلک تر ټولو ډېر درد زغمونکي خلک دي.
- ❖ هر چا ته د مينې وړانديز د مينې بېاحترامي ده، پر هغو مېَن شئ چې د مينې او هوس تر منځ توپير کولی شي.
- ❖ زړورتيا همدا ده چې بل کنځلې کوي او تۀ خاندې او په خپله خندا مخاطب ته دا مسېج ورکړې چې ته لا کوچنی يې.
- ❖ کوم خوند چې ماشوم له خپل لاس جوړ شوي کورګي اخلي لويان هومره خوند له بنګلو نه شي اخيستی، ژوند مو په خپلفکره کارونو خوندور کولی شئ، نه په نورو څۀ او نورو چا.
- ❖ د يو بل لپاره د ژوند تېرول يعنې څۀ؟ يعنې د يو بل لپاره قرباني ورکول.
- ❖ ملګرتياوې ورو ورو رامنځته کړئ په ورو رامنځته کېدونکو ملګرتياوو کې د له منځه تلو فيصدي کمه وي.

- ❖ یوه ښکلې جمله خراب ذهن جوړوي امدقسې/ همدغسې یوه ښکلې مینه خراب ژوند درجوړوي.
- ❖ ډېر خلک د کار کولو له امله د سړیا شکایت کوي، دوا یې ده ګډ کار، او ګډ کار له کار خوند اخیستلو ته وایي.
- ❖ داسې مېن شئ چې بېلیونونه انسانان یوازې یو عدد وګڼئ.
- ❖ ځان باید داسې کړو چې د ځینو لپاره باید همدا اوس دنیا ته تازه راغلي واوسو، ځینو ته بېخي نه پیدا شوي واوسو، او ځینو ته بېخي نه مړۀ کېدونکي واوسو.
- ❖ د غریبو زامن هغه ناامیده خلک دي چې خلکو ته بیا د امید لارې ښیي.
- ❖ کلاشینکوف مېخایل جوړ کړ خو خپل مرګ یې پرې مړ نه شو کړی، نو ګټه یې څۀ وه!؟
- ❖ سترګک وهل د سترګو ورزش او د یوې عشقي بېپایه لوبې پېل دی.
- ❖ انسان کېدل جسم نه دی بلکې کړنې دي.
- ❖ یو شی بېخي نه زړېږي بس یو شی خالي زړۀ.

❖ او د ليکلو د توان خوند به هغـه وخـت حـس کـړې چـې زړۀ دې غږېدل غواړي خو د زړۀ د تش/ خالي کولو لپاره څوک نۀ وي.

❖ له جهنم مه وېرېږه خدای ته له شکايت کوونکي ووېرېږه.

❖ بدرنګي په شکلونو کې نه‌شته بدرنګي په قولونو او کـارونو کـې تـر سترګو کېږي.

❖ مور جوړېدل دومره سخت نه دي خو له مورکېدلو وروسته مور نه جوړېدل بېخي د افسوس وړ ده.

❖ هغوی خلک تشدد ته تشويقوي چې تۀ ورسره بنۀ کوې او دوی د کم‌عقلتوب ټاپه دروهي.

❖ غربت د جنګونو بهانه ده، وړي ذهنونـه د جنـګ کاروبـار پـر مـخ بيايي.

❖ څوک مه درمیَنوئ، که درکړل مو نو سم يې نازوئ.

❖ عسکري د ويښو شپو عاشقي ده.

❖ که خلک خرڅېدی ځينې خو ولا که چا هسې مفت هم اخيسـتي وای.

❖ پټ مهرونه او پټې نښې اصلي پيسې لـه جعلـي بېلـوي، همدغسـې اصلي انسان وجدان له جعلي انسانانو بېلوي.

- ❖ شهرت د هر انسان فطرتي غوښتنه ده هر څوک یې لاسته راوړلی هم شي خو په غلطو لارو شهرت بې‌غیرتي او په مناسبو لارې اتلولي ده.

- ❖ انسانیت به هغه وخت ومنم چې وطنپرستي پر نړۍ‌پرستۍ بدله شي.

- ❖ بزگر د لوږې ډاکټر دی.

- ❖ مورسالاري له پلارسالارۍ او دیموکراسي له پاچاهۍ غوره ده ځکه مهرباني په کې زیاته ده.

- ❖ وچې خاورې د ښهٔ حاصل لپاره اوبو ته اړتیا لري، وچ فکر د ښو لیکلو لپاره ښو لوستلو ته اړمن دی.

- ❖ په سیاست کې اسلامي سیاست او په مینه کې کاپره مینه چک لگوي.

- ❖ خلک دوه ډوله خوب کوي ځینې په ویښه ویده کېږي او ځینې ویدهٔ ویدېږي، هغوی چې ویده ویدېږي چندان نه دي.

- ❖ هر څهٔ په ټوکو کې خوند کا خو جنگ په ټوکو کې هم تریخ لگي.

- ❖ لکه چې ویل کېږي ، ورزش د صحت ضامن دی نو د ژوند د

صحت ضامن کېدو ته لوېدل او پورته کېدل ورزش وبوله.

❖ ځینې خلک وایي چې هر څوک مېَن دي، دا ناسمه ده که هر څوک مېَن وای نو قاتل بیا څوک شو؟ په پاکه مینه کې خلک مري خو خلک مړهٔ کوي نه.

❖ هر چا ته ووایه زما په ژوند کې راغلـي دې راغلـي وي، تللـې دې تللي وي، خو راځي دې نه ځي .

❖ همدا نړۍ که وپلټلی شي پټ خدای پیدا کولی شو.

❖ مخالفت دوښمنۍ ته نه ویل کېږي، رزالت او دوکه دښمني ده.

❖ هر څهٔ چې کوو باید په شوق یې وکړو، خو شوق په عشق کېږي.

❖ عجیبه ده بدې کړنې تل ځوانې پاتې کېږي او ښې کړنې ډېر ژر زړېږي او له منځه ځي.

❖ تر ټولو خوار خلک هغه دي چې په میلیونونو پیسو څهٔ اخیستلی شي خو خپله د یوې روپۍ قیمت هم نه لري.

❖ که انسان راز ساتلی شوی هېڅ به د راز نوم هم نه وای زده.

❖ په نړۍ کې یو څوک له یو چا د غچ اخیستو فکر نه لري؛ مور له زوی څخه او بس!

❖ سیګرټ څکل هسې یوه بهانه ده هغوی خپل ارمانونه کشوي.

- د ښکلا حس سترګې، د مینې حس زړه، د ګرانښت حس روح کوي.

- نړۍ چې هر رقم وي خونړۍ کړې تش په نوم انسانانو ده.

- مینه د خدای په تخلیق کې چیلنچ دی انسانان به روباټ جوړ کړي خو روباټ به مېَن نهٔشي.

- د ځینو په خبرو عمل څۀ آن د خبرو کولو وخت هم باید ورنه کړل شي، ګنې په خپلو خوسا خبرو به درته د زندهګۍ خوشبو بدبویه کړي.

- کله دې چې څوک ژړوي نو د اوښکې پاکولو تمه بیا په یو مذهب هم مه ورنه کوه.

- تر هغې د یو او بل په څنګ کې پاتې کېدل پکار دي څو چې روح وجود، سا هوا، هوا اسمان او اسمان ځمکه نه وي پرېښودلې.

- د پوځي مینه سخته پرېمانه وي، هغه نجونې چې پوځي یې معشوق وي تر ټولو د ډېرې مینې تجربهکارې دي او وي به.

- په مبارزه کې که وېدۀ نشې راویښولی نو باید ویښ خو درنه وېدۀ نهٔشي.

- مینه خدای په ټولو رنګونو وروېشتې او رنګه کړې ده.

❖ نړۍ تجزیه شوې ده اوس د وطن له تجزیې سره مبارزه پکار ده.

❖ د هجر وهلو مېَنانو زړونه لکه بانکونه، تش په دې توپیر چې په بانکونو کې په کروړنو پیسې او د دوی په زړونو کې په کروړنو گیلې پرتې وي.

❖ ژوند د ژړا او خندا ټولگه ده چې له دوی یو هم په کې کم وي نو ژوند نه دی.

❖ ساتیری په مینه مه کوئ د ساتیري او تفریح لپاره نورې ډېرې لوبې شته هم هغه پلې/ وکړئ.

❖ او که یو څوک دې په خاموشي پوه نشو نو په چیغو به یې ستا نیکه هم نه کړي پوه.

❖ خوند نه کا چې مینه خالي د دوو مېَنو تر منځ راز پاتې شي خوند کا چې ښکاره شي او نور ډېر د مینې له نوم سره آشنایي پیدا کا.

❖ همدا دوه مخي ده چې له نویو راغلو خلکو سره ښهٔ چلند کوې کله چې نوي درسره ملگري شي او ته ورسره هم هغه پخوانی چلند ونه کړې.

❖ سرتېری د وژونکي نوم نه دی. هو، هو بلې، د ساتونکي نوم دی، خو د وطن د مړ کوونکو څخه د وطن له مړ کېدو مخکې دوی سا کاږي چې دا یې د دندې مقدستي اړخ نومېږي.

❖ ځينې خدايزده څه شي وي، چې درسره وي ژوند بـل رقـم خـوږ لګي، خو چې نهٔ وي نو ژوند قيامتي خوند لري.

❖ هر څوک بوتل کيدای شي خو هر څوک آتل کيدای نهٔشي.

❖ چې ځي خو ځي دې، مګر خوند يې دا نه کا چې داسې درنه لاړ شي چې درته ونه وايي چې يا بيا راځم يا بيخي نه راځم.

❖ کله کله مرور کېدنه هم سُـور نيسـي، ځکـه معلومېـدلی شـي چـې مقابل لوری تا سره څومره مينه لري.

❖ زړورتيـا دې مـړ کـولی نهٔشـي او بېغيرتـي دې لـه مـرګ نهٔشـي ژغورلی.

❖ وخت نه نوی کېږي، همدا چې نوي څهٔ غواړو بايد خپل فکرونـه نوي کړو.

❖ په هره رتبه چې وې، خو ځينو ته به سَلوټ/ عسکري سـلام وهـې، مثلاً مور ته، بيرغ ته عاشق/ معشوقې ته ... .

❖ هغوی ټول رواني ناروغان دي چې د نورو په ژونـد کـې مداخلـه کوي.

❖ ډېر کله ځناور په خپلو منځونو کې سره وايي چې هغه انسان مـوږ نه دی وژلی انسان وژلی و.

❖ مبارزین چې څو مړۀ نه شي خلک یې مبارزه تر مطلبه پورې بولي.

❖ مینه یوه نغمه ده خو له مێن پرته یې هېڅوک نۀشي حِس کولی.

❖ یو نیم انسان د یو نیم لپاره لکه دوه فصلونه داسې وي، چې ورسره وي پسرلی وي چې نه وي خزان وي.

❖ وطن په خبنتو او پیسو نه جوړېږي په ذهنیت جوړونه جوړېږي.

❖ سکون غواړې؟ یوازې مهربان واوسه.

❖ دا الفاظ ډېر کاروئ: سلام، وبښه، مننه، هیله کوم، د مننې وړ نه ده، دا الفاظ مو د یو ښکلي ژوند دروازه پرانېزي.

❖ او که چا ته مو خپل حق ورپرېښود گناهگار يئ ځکه هغوی به مو له خدای هم لوی گڼلي وي.

❖ د انسانانو درک ځکه ببخي کمزوري دی چې له چا سره چې مینه لرو کرکه راڅخه کوي او څوک چې مینه راسره لري کرکه ترې کوو، لوی افسوس!

❖ هغوی به ازادي او جغرافیایي خپلواکي په ژوند کې هم ونه ویني چې په خاوره یې خلک کم جنگېږي او وېشلو ته یې خلک ډېر راوځي.

- ❖ عاشقان هېڅکله آن د ژوند په یوه ثانیه کې هـم یـوازې نـه وي، د دوی روحونه له یو بل سره پیوست وي او هر چرته دوی یو ځـای وي .

- ❖ او ښځې بې‌اندازې احتیاط په خپله خطر رامنځته کوي.

- ❖ د زړۀ خنـدل مـو زده دي؟ کـه نـه وي مـو زده د نـورو خـولې وخندوئ ستاسو زړونه به له خندا شنه شي.

- ❖ که هندارو خوله او ژبه لرلی ډېر خلک به یې ستایلي او مچو کړي وای.

- ❖ انسانیت ته تر دې حده تابعداري په کار ده چې ټـول بـل‌مذهبـه هم‌مذهبه درته ښکاره شي.

- ❖ د یو چا خفه کول ډېر اسان کار دی که ځان غښـتلی ګڼـې نـو بیـا خوښي ووېشه.

- ❖ له ځینو هېڅ هم نه وي ورک، مګر ګرځېده یې داسې وي لکه څۀ چې ترې ورک وي، هغوی بایلونکي مېَنان دي.

- ❖ فکر مو دی؟ ډوډۍ خوړل هم سخت دي، هر څۀ په هڅو کېږي آن د تیارې ډوډۍ خوړل هم.

- ❖ که د انسانو د عمر غړونه ثبت او وځېړل شي ډېر کم غړېدل به یې

د غږېدو ارزښت ولري.

- ❖ مینه هم عجیبه کانې کا، په نړۍ کې نړۍ درته وزېږوي او د زیږېدلې نړۍ په نۀشتون کې شته نړۍ خونړۍ ښکاري.
- ❖ عبث تلل مه کوئ، له زړونو چې یوځل بهر شئ بیا چې ورته راهم‌شئ د لومړنۍ مینې جوش به په سترګو هم ونه‌وینئ.
- ❖ بې‌مینې ژوند لکه یخ وهلی جسم، مینه لکه ګرمي چې یخ جسم ګرمي ووهي لړزېږي.
- ❖ ژوند ښۀ دی دا چې خرابوو یې بد کوو.
- ❖ وخانده، چې ژوند ښکلی شي.
- ❖ ظلم دی د یو چا دومره بې‌کسه کول، چې ټټر/ سینې ته د تللو پر ځای زنګونونه تکیه کاندي.
- ❖ ډېر خلک د حق ښنلو هیله درنه کوي خو که ورته ووایې چې مرګ حق دی او زما د مرګ حق ستا شي منډې ووهي.
- ❖ غواړم او وغواړئ چې د انسان له طبیعت نه د وینو بهېدلو جګړه محوه/ لرې کړی شي او یوه د لومړنیو جګړو په نوم د مچکو نړۍ‌واله جګړه رامنځته شي او رامنځته کوونکی یې د مچکو هېټلر په نوم ونومولی شي او د انسانیت په تاریخ کې د مچکو د لومړنۍ

نړۍوالې جګړې په نوم ثبت شي.

❖ په مينه کې زړونه تړلی کېږي که وجودونه سره تړل کيدای، کشول يې هم ګران کار و.

❖ ستا غږېدل يوازې غږېدل نه دي د ځان تشريح کول دې هم دي.

❖ ماشومان د مينې پرېښتې دي خو، لوی ماشومان د قهر بلاوې دي.

❖ ژوند کومه ډرامه نه ده چې تېرې شوې برخې يې راشا ته کړو.

❖ ځمکه يا کروي يا بېضوي يا جمودي به وي که نه، خو فاني حتماً ده.

❖ ډېر وخاندوئ، څو پر ډېرو ګران شئ.

❖ له مينې پرته احترام نهٔشي رامنځته کيدای.

❖ بدرنګي بېخي شته نه، بدرنګو ذهنونو د بدرنګۍ لفظ رامنځته کړی.

❖ په ټولو سيارو کې ځمکه د اوسيدو لپاره غوره ده، په ټوله ځمکه کې انسان غوره دی، په ټول انسان کې انسانيت غوره دی، په ټول انسانيت کې نو مينه واه واه.

❖ زۀ/ تۀ انسان یم روباټ نه یم نو مهمه نه ده چې د بل په اشارو وچلېږم/ وچلېږې.

❖ نو تل کتل د مینې زیرى نه لري، کله کله د قهر بمبار هم کوي، د مینې زیري لرونکي کتل مړاوي وي.

❖ د دې په ځای چې ووايې زۀ داسې یم، غوره دا ده چې همغسې کار وکړې.

❖ یو شی هم نه دی مهم، خو ضرورت یې مهم کوي.

❖ ډېر عشقیان په سترګکو معتاد/ روږدي وي په ټوکو او خبرو کې هم سترګک وهي.

❖ او له خندا سره پوره احتیاط من هم اوسئ، خندا د خلکو د خوشالۍ تر څنګ خلک خفه کوی هم شي.

❖ کله کله باید معشوقې یا معشوق ته د پرېمانه کتلو لپاره ځانونه سپینسترګي کړو.

❖ که په مېن او مېنه کې یو کس بل ته لاسونه ورواچوي نو که بېهوشه نه شي، سست او بې حرکته خو به حتمي شي، که نشي نو بیا مېن/ مېنه نه ده.

❖ ځینې لکه باران له ډېرې نرمۍ شور کوي نرم خلک هم شور لري.

❖ له کتاب سره تر دې حده مینه په کار ده چې د کتابونو د غلا په تور په محاکمه کې ودرېږو او قاضي ووایي هغه کس چې د کتابونو د غلا په تور مو نیولی دی، دا دی.

❖ د شا له خوا خبرې او پروپاګنډه د زړهٔ لپاره داسې وبوله لکه د انجن لپاره پټرول، مخکې پرې ځه ځو وسوزي.

❖ د شهوت‌پرستانو لویه نښه همدا ده چې له شخصیت مخکې دې ظاهري ښایست ته لومړیتوب ورکوي.

❖ ډېرې کږې وږې لارې هم سر ګرځوي، کږې وږې خبرې خو به خامخا دماغ چورلوي.

❖ هلک لکه ژوند او نجلۍ لکه سا.

❖ په وجودونو کې زړونه لکه په موبایلونو کې بېټرۍ؛ په ښکلو اورېدلو، ښکلو ویلو لنډه دا چې په ښکلو شیانو چارج کېږي.

❖ ټیټېدل تل کمزوري نه وي، ګنې لویدلو ته به څوک نه ورټیټېدای.

❖ د لویو خلکو د لویولۍ راز لوی لوی زړونه دي، نه لوی وجودونه.

❖ عشق یعنې د ژوند له اړخونو د خوند اخیستو سرچینه.

❖ کتل بلا د کار شی دی؛ خوارهٔ کتل اړیکې خوږې کوي او ترخه کتل اړیکې ترخې کوي.

❖ زړهٔ له عقل قوي دی، بل دې چې په اړه له ځان سره تش فکر هم وکړي دا يې حس کوي.

❖ د سرتېري د قرباني د منلو لپاره یوازې همدا نوم هم کفایت کا (سر تېری).

❖ څومره چې خلک پېژنې دومره به خلک راکمېږي.

❖ د زړهٔ مورچل د فتحه کولو لپاره یوې دانې اسلحې ته ضرورت دی، چې د اسلحې نوم له خندا ډکه خولهٔ نومېږي.

❖ د ښکلي مرگ لپاره ښکلې قواره نه چلېږي.

❖ نړی نری کېږی ده ، سینې پلنې لکه پُلچک ساتئ.

❖ پر غړېدلو خو دې هر څوک پوهېږي، مهمه دا ده چې یو داسې کس به خوند وکا چې د سترگو او زړهٔ پر خبرو دې پوه شي.

❖ د بدلون پر معنا مو ځینې خلک ډېر ښهٔ پوهولی شي.

❖ ژوند لکه د سپرلی موټر، کله دومره ډک وي چې ورځایېدل دې مشکل وي او کله دومره تش وي چې د ډکولو لپاره یې هېڅوک نهٔ پیدا کېږي.

❖ بدلښت/ بدلون چې طبعي وي بیا سهي وي، خو چې

مصنوعي شي نو بيا خرتوبي شي.

❖ که دښمن پوهېدای چې ژړا به ورته سکون وبښي، بيا يې نه ژړولې.

❖ او په گرده نړۍ کې درگرده/ په ټولو کې يو کس ته انتخاب وايي.

❖ (زۀ) هغه وخت ويال/ خوښ وي چې(تۀ) يې د گوتو خاليگاوې ورډکې کړې.

❖ سرتېري له لوړې خاورې خوري خو خاوره نه پرې خوري.

❖ شيان خو له هر چا ورکېږي، کله کله بايد ځان ورک کړو څو وگورو څوک مو لټوي او څوک راپسې گرځي.

❖ غورې مرې هسې شی دی، د دا گز و دا ميدان خبرې ته د ټينگې نه دي.

❖ مبارزه د چکې/ لډو گېم نه دی چې که چکه/ شپږ درته واوښتل نو ژر به گټوونکی شې او که ون/ يو درته واوښت نو د بايللو چانس دې ډېر شؤ، په مبارزه کې به په زور هم چکه/ شپږېزه وهې نۀ په چانس، گنې په چانس خو ون/ يو هم وځي.

❖ کوشش کوه چې ښۀ وغږېږې، نور مهمه نه ده چې څو موافق شته او کنه خلک به خپل کار کا.

- ❖ ښځې بد خبر همدا دی چې وویل شي: پلانی، پلانی په وسله وواژه او زبردست په کې دا دی چې: پلانی، پلانی په مینه مړ کړ.

- ❖ انسان ستر دروغجن دی هلته وایي چې دوه ورځې ژوند دی، دلته بیا د کلونو کلونو اندېښنې کوي.

- ❖ پاګل/ کم‌عقلان پر دې هم خفه کېږي چې ماشوم یې وبولو، هغوی پر دې نه پوهېږي چې ماشوم یعنې بې‌کرکې موجود.

- ❖ ځورېدل د هر بې‌وجدانه کار هم نه دی، هغوی چې احساس لري ځورېږي.

- ❖ په مکمله نړۍ کې جارمېن مکمل ښکلی/ ښکلې وي.

- ❖ هر کال په دروغجنه نړۍ کې یوه د ښکلا مالکه/ شهۍ ټاکل کېږي سره د دې چې د هر کس د خوښې هغه د نړۍ د ښکلا شهۍ ده.

- ❖ د رابطو اصلي جوړښت پالل دي.

- ❖ خوړلنتون واوسئ، څو تاسو ته راغلي تر فراغته د خوړو تدریس په ټولنه کې عام کړي او د کرکتون بنسټونه ونړوي.

- ❖ ځینو عقلونو ته عقل هم بې‌عقله کېږي.

- ❖ عشقیتوب تش په شونډو د شونډو ژوول نه دي، سترګه وهل، خواږۀ کتل، له ناز زنګېدل، خواږۀ غږېدل، بس له ځان چاکلېټ

جوړول عشقیتوب دی، خو په شرط د دې چې ځان خوړولو ته هم ورنکړې.

❖ د یوویشتمې پېړۍ خلکو په ځمکه کې طلاوې ورکې کړي اوس غواړې خلا/ فضا ته پسې والوځي، خو دوی نه پوهېږي چې دلته لا هم طلایي غرونه شته خو داسې طلایي غرونه دي چې په سوري کولو نه بلکې په کتلو ارزي او نوم يې انسان دی.

❖ هلته ژوند کفر دی، چرته چې مینه جرم او مرګ غیرت بلل کېږي.

❖ ځینې خلک له تا مینه غواړي خو خپله په کې یو ټکی مینه هم نه وي.

❖ اړیکې خندونه خالي قطع کوي، خو ځانځاني يې ښخي غوڅوي.

❖ مذهبي چې عشقي شي نو بیا ښځي سهي شي.

❖ عاشقانو ته دې وويل شي چې تل پاتې کېدل نه وي ښه، بیا ارزښت کمښت پیدا کوي.

❖ بندګي د الله کېږي، دا مه وایئ چې پلانی د بنده بندګي کوي، دا بندګۍ ته بې‌احترامي ده، غوره ده ووایو چې پلانی د پلاني ګنده‌ګي کوي.

❖ هغه نجلۍ زبردسته او په مینه کې له موره يوه وي ، چې د ماشوم غوندې ناز او ادا لري.

❖ سیاست سمه تګلاره ده بس هغوی یې رنګ بد کړ چې د سیاست پر ځای میاست کوي.

❖ هم هغه فشار چې لاس یې په لاس درکوي، د مینې فشار مو لوړ خېژوي او د سترګو پر ټکر مو اړوي او د سترګو ټکر تر ټولو خوږه حادثه ده.

❖ ځانونه دومره مه محدود کوئ چې ژوند دربانديې راتنګ شي او د سینې پښتۍ درماتې کړي.

❖ هغوی چې تللي دي د ځمکې فضایي مخلوقات دي شتون یې کیدای شي وي، خو وینو یې نه.

❖ که په شونډو مو د دې زړه نه شي چې بل څوک یې در مچکې کړي نو په خوږو خبرو خو یې خپله ښکولوئ.

❖ خندا عجیبه کمال لري آن که ډېره بده خبره هم په خندا وکړئ غوسه او کرکه نه رامنځته کوي.

❖ یو عادت خامخا په ځان کې درموجود کړئ، هغه دا چې د هر چا سره له بنډار او خبرو وروسته ښه وغواړئ سره له دې چې تاسو بده خبره هم نه وي کړې.

❖ چې زړونه تنګ نه شي، نه ژوند او نه هم محفلونه تنګیږي.

❖ تر ټولو په زړهٔ پورې اړیکې د ملګرتیا اړیکې او تر ټولو دلچسپه مینه د ادکې مینه او تر ټولو ښکلې خاوره خپل وطن نومېږي.

❖ د زړهٔ په خوښه ژوند کوئ ښې خبرې اورئ، د سرچپه په کیسه کې مه کېږئ.

❖ هر رنګ چې وي خو ژوند تر هغې باید مړ نه کړو چې ځو یې مونږ مړهٔ نه وو.

❖ تروشه ټنډه د نفرت لښکرې جوړوي او موسکه خولهٔ، خندیز تندی د مینې د ځواک د جلب و جذب مرکز دی.

❖ که مورواکي د نرۍ د وروسته پاتې خلکو کار وي، زهٔ د نړۍ تر ټولو وروسته پاتې زوی یم.

❖ او ځینې په موسیقۍ کې ناچ کوي خو غېږه نه ترې اخیستل کېږي، چې دا یې بیا خوند نه کړي.

❖ د دوو مېَنو تر ټولو په زړهٔ پورې او د مینې لوی ثبوت هم دا دی چې یو ووایي وی بل نارې کړي چې مړ شؤم.

❖ کله کله موسیقي، یاران، کورنۍ، تریخ چای/ قهوه او ... ارام نه شي درکولی، همدا تنهایي ده چې سکونت/ ارامښت په کې کولی شو او له خاموشۍ خوښۍ وړلی شو.

❖ هو رښتیا ده ځینې د زړهٔ ناروغي لري، خو د دې پر ځای چې امبولانس راغوښتو ته زنګ ورته ووهئ دا مرسته پرېږدئ، دا مرسته ورسره وکړئ چې هغې/ هغه ته زنګ ورته ورووهئ.

❖ همغه هېوادونه برباد‌ستان دي چې په کې ککرۍ نه وي مهمې او روپۍ مهمې وي.

❖ ټوپک یوازې د ناموس ساتنې لپاره وکاروئ! نو د وطن ساتونکو او د عزت ساتونکو لپاره د اجازت او د مرمۍ د خوشې کولو اجازتي کارټ لري.

❖ زهٔ ځان ته وایم او تهٔ مخاطب یې، فکر مې وکړ چې مړ شوم مور ضعف شوه ان زما مرګ نهاره کړه، دماغي شکنجه شوه د پلار زړهٔ مې کرښې شو، د وروڼو زړونه مې ګنډه او بند شول، د ښو نېژدې ملګرو ښهٔ زړهٔ وسوزېد، ښهٔ یاران مې ښه غمجن شول، یو څو ورځې مې عکسونه په فېسبوک ښکته پورته شول، د وخت په تېرېدو ورو ورو له حافظو پاک شوم، هر څهٔ هم هغسې روان وو چې وو، خو مور پلار او وروڼو ته به کله کله هسې لږ لږ وریادېږم او باقي به له ډېرو داسې هېر شم چې زهٔ ګوندې بېخي دوی لیدلی نه ؤم، بس دا د ژوند فلسفه ده.

❖ بایلونکي مېن په سختۍ سا اخلي، دوی ته د خولې د اکسیجن ضرورت دی نه د ډبې د اکسیجن.

❖ تاسو نهٔ پوهېږئ چې یوه سترګه پټول مو پر زړونو هندې نڅا راولي، هلئ مارش شئ د څو ثانیو لپاره عاشق/ معشوقې ته سترګه پټه کړئ څهٔ ړندېږئ خو نه!

❖ د نړۍ څلورو کونجونه په څلورو ټکو سره یوځای کیدای شي او بس م ی ن ه ... .

❖ مهمه نه ده چې باید شراب وي، بس که کوم کس هم وي خو، چې په سُر کې دې کړي شراب نه شرابونه دي.

❖ هغه څهٔ بې‌شرمه او رزیل خلک دي چې انسانان ترې ځانونه په سپي ساتي.

❖ لرې کا ځان‌وژنه! ډېر په دا مري چې تهٔ نهٔ مرې.

❖ تش ژوند فرض نهٔ دی، ازادي یې د فرضوالي شرط دی.

❖ مه هېروئ چې هیله انرژي ده او مخته تګ کار دی.

❖ که انسان غواړي چې په زرګونه کاله عمر ولري نو زاړه کتابونه دې ولیکي.

❖ له مور زېږد ورونه مه حسابوئ، ښهٔ یاران مو وشمارئ او بیا ووایئ زهٔ دومره ورونه له سکه ورونو هم غوره لرم.

❖ دا غلطه ده چې ووایو هېواد یا ما ته یا تا ته ضرورت لري، زهٔ او تهٔ

هېواد ته ضرورت لرو.

❖ د ځینو خلکو د لاس په قهوه/ چای ... پسې باید د خوږو او چاکلېټو پر ځای سلامت گیلاس وخوړل شي.

❖ ارمانونه نۀ زما نیکه او نۀ ستا نیا پوره کولی شي، خو دواړه جنسه به یې تعقیبوو.

❖ سمندر هم انسان دومره ژور نۀشي ډوبولی لکه ژورې مچکې،

❖ د هرې مسابقې/ لوبې د پیل په وخت دې اراده باید دا وي چې هلته به یې بایلم چې ووژل شم، تر هغې بایلل نهشته چې سا اخلم.

❖ عسکر د وطن یوازېني میَنان دي چې د گلاب پر ځای وینه د مینې د اظهار لپاره ورکوي.

❖ فکر اسمان ته وخېژوه او ځان اسمان ته مه خېژوه.

❖ ډېر ارزښت لرونکي شیان ډېر کم خلک لري، همداسې ځینې عاشقان/ معشوقې لېونی/ لېونۍ لري.

❖ داسې خلک به هم ووینئ چې د ښکلا لپاره یې پیسې شرط اېښودلی وي.

❖ کله کله د ارامښت لپاره چای، قهوه، مشروبات نۀ چلېږي کتابونه

چې وشکل شي ټیک ټاک به شئ.

❖ د مینې د کس انتخاب یعنې چیشی؟ یعنې دا چې په گرامر کې سوال درته راغی چې تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ او تهٔ ورته ولگېږې، په ټولو تشو ځایونو کې ولیکې (تهٔ) ،(تهٔ)، (تهٔ)... او یا په ریاضي کې درته راغی چې خالیگاوې په هغې عدد ډکې کړئ چې مساوي شي او تهٔ بیا هم ورته ولگېږې (۱)، (۱)، (۱)... په کې کش کړې او دې ته ونه گورې چې چتې په لگیا یم او که سهي.

❖ هغوی چې بېټوکو یې رنگ دروتبنتي او ژیړ/ ژیړه شي پوهه شه در گرم/ گرمه ده.

❖ له درد سخت څهٔ شته؟ هو هم هغه کس چې درد درکوي له درد هم سخت وي.

❖ له ځان سره ځکه مینه وکړه چې که ځان ونه لرې هېڅوک به هم ونه لرې.

❖ مېنان د نړۍ لوی اختراعگر دي، دوی د هوا له خپو د مېن/ مېنې غږ څهٔ چې ورم او باډيعطر هم کاپي کولی شي.

❖ د ژوند له ترخو شېبو سره چاکلېټې کسان ونیسئ چې جک جوړ او د خولې خوند مو خوږ پوږ شي.

- په مرۍ کې کوچني رګونه موجود دي چې په چېچلو په کې وينه نه، مينه راځي.

- تش برېتونه د سړيتوب معيار نه دی، د برېت تر څنګ بايـد برېـک هم ولرئ.

- ښکلې نجونې د نړۍ په ديوال کې طلايي خښتې دي.

- خلکو ته په اورلګيد اور مه اچوه، کفايت کړي چې ستا لـه بريـا او نوښتونو ځنې وسوزي.

- مرګ حق دی، ولې دا ژوند هم حق دی.

- د مينې ډولونه مه شمارئ خالي ميَن شئ بس.

- بې‌مينې خلک يوازېنۍ پلمه/بهانه دا کوي چې نـړۍ چندانـه نـه ده، خو کله هم دا فکر نه کوي چې موږ بې‌مينې خپله چندان نـه يو.

- د ځينو خلکو خندا لکه اوتو/ اېستري، د زړۀ ګونځې سموي.

- همغه ټولنې به بـار بـار وژنـې تجربـه کـوي چـې لـه مفکرينـو يـې متکبرين ډېر وي.

- د ځمکـې د څـو جربېونـو پـه خـرڅلاوو اکثريـت شـيان اخيسـتل کيدای شي، خو تر ټولو قيمتي اخيستنه د لالـي/ لالـۍ ده، چـې

یوه نړۍ قیمت لري.

- ❖ ځیني خلک لکه د روح په څېر وي له دې نړۍ په تللو هم مونږ ډاډه وو چې یوازې مو نه پرېږدي.

- ❖ منفي فکرو سره د خبرې ژوول نه ارزي، لنډ ورته وایئ چې مه وایه چې مه غرېږه، دا زهٔ یم تهٔ نهٔ یې.

- ❖ د وزرونو سوالگري څله کوئ؟ بندي خیال مو د غلامۍ له پنجرې وبروئ/ والوځوئ، بیا به مرغان د وزرونو پر ځای ستاسو د خیالونو سوالگر شي.

- ❖ ولې دا ژوند چې په مونږ پورې خندلی شي مونږ نه شو پورې خندلی؟ ښهٔ ورپورې وخاندئ چې پته ورته ولگېږي.

- ❖ خالي/ یوازې غومبري هم ښکولولو ته نه دي جوړ، کله کله زړونه د مچکو تږي شي د سینو جنگول او په زړهٔ د زړهٔ د خولې ښخولو او رؤدلو آشد ضرورت وي.

- ❖ هدف ته مو غیرت رسوي بې‌غیرتي مه کوئ، مات به نه شئ.

- ❖ نړۍ پرېږدئ خو، یارۍ مه پرېږدئ!

- ❖ مزې نه شته خو اخلې به یې.

- ❖ ژوند اوبیز برېښنا بند دی په شور کې یې رڼاگانې پټې دي.

❖ هره اړیکه مطلب لري خو ښهٔ مطلبونه ښې اړیکې او بـد مطلبونـه بدې اړیکې رامنځته کوي.

❖ ځینې کارونه په ورزش کـې حسـابېږي صـحت تـه ګټـه لـري خـو شخصیت ته تاوان لري، مثلاً د بې‌غیرتۍ تېښته.

❖ خبردار! د سترګو خوب مـو ښـکلا زیـاتوي خـو فکـري خـوب مـو بدرنګوي.

❖ هیله کوم دا پړه/ ملامتیا په رب (ج) مه وراچوئ چې رب بې‌څوکه پیدا کړی یې، هر څوک یو څوک لري همدا څوک یې بې‌څوکـه کوي.

❖ د انسان د خوراک څخه دا غوره ده چې سپی دې وخـوري ګیلـه خو به نه درته ودرېږي.

❖ څلرویشت ساعته ښې خبرې کوئ، که ومو نه کړې پر دې پوه شئ چې یوه شیبه بد غږېدل مو د تل لپاره بد معرفي کولی شي.

❖ د انساني غرور د ساتلو لپاره مو د وجود پر سرحدونو ټـول حـواس پیره‌داران کړئ.

❖ خبردار اوسئ! تر ټولو غټه بربادي هم هغه ده چې تهٔ ورمـیَن وې او هغه لا خبر/ خبره هم نه وي.

❖ عشق مکمله نېکمرغي ده خو هغه یې اوج دی چې دواړه یو پر بل

عاشقان وي.

❖ کله چې یو څوک د خوښې کار درته وکړي د مننې پر ځای ورته ووايه چې( تهٔ مېَن شې).

❖ عسکر تر هغې د ستاینې وړ دي څو چې انساني بلاوې ور کې نه وي چې انساني بلاوې ور کې شي بيا بايد د اسلحو جواز ترې واخيستل شي.

❖ انسان په اصلي مانا بې‌کرکې موجود ته وايي.

❖ ځينې يخنۍ په کمبلو نه، په غېږو ورکېږي.

❖ زهٔ همدومره درته وايم چې مېَن/ مېَنه شې دا چې تهٔ وايې پر چا؟ هغه به زړهٔ درته وښيي چې پر دا.

❖ په ښوونځيو کې يو دانه د مينې په نوم مضمون ته اشد ضرورت دی، چې له اول صنف بيا تر ماسټرې پورې په ترتيب سره ترتيب شي، څو له کيميا د ژوند د بقا لپاره درمل جوړ شي نه اتم‌بمونه، له رياضي ښکلې ودانۍ سازې شي نهٔ په دايره کې د انفجاري موادو غورځونه، له فزيک د منشورو وړانگو ستر رنگين‌کمانونه جوړ شي نهٔ لايزري سوختناکې وړانگې چې انسانان سره پرې وسوزوي، له تاريخ د جگړو وحشت تعريف شي او د شاه و شهۍ خوړلن ژوند ترې زده شي، له جغرافيې د دنگو غرونو لوړو او ژورو پلنو شنو دښتو ورشوگانو، ارامو او شورناکو سيندونو، د سياحت تنده

راوتوکېږي، نه له دنګ غره د مرمۍ د ورولو، په سیند سمندر کې د جنګي کښتۍ د تللو خبرې او داسې... .

- ❖ له ځینو خلکو باید روپۍ نه بلکې خندا وغوښتل شي.
- ❖ نجونې یوازېنۍ مخلوق دی چې سرې په کتلو کې بې‌شرمۍ ته رسوي.
- ❖ ځینې خلک لکه د روح په څېر وي، له دې نړۍ یې په تللو هم مور ډاډه یو چې یوازې مو نه پرېږدي.
- ❖ په یاد ولرئ چې خندا ډېره ژوند ښسونکې ده، خو دا هم مه هېروئ چې د چا رنګ پرې مه ژیړ کوئ.
- ❖ زنده‌ګي لوی بازار دی کله کله د بل په پېدا کولو پسې تا ورک کړي.
- ❖ سمې سمې خبرې سخت خوند کړي خو ستونزه دلته ده چې ځینې پر سمو خبرو نه پوهېږي، کارۀ وي او پر کږو خبرو سمېږي.
- ❖ ژوند داسې وکړه چې پر شتون څۀ چې پر نوم دې هم محفلونه جوړ شي.
- ❖ همدا زۀ چې تاسې مینې ته رابولم یو تن مینه بایلونکی یم، مګر

ژوند په پوره هیله‌منۍ مخکې بیایم.

❖ د سرو کرښو قوماندان وروستنی امر هم د مینې لښکر تـه دا دی چې مینه وکړئ، مینې ته خلک راوبلئ او بس... .

# پای